ليكوال: ډاكتر شعيب منصور
ژباړن: زاهد صمدزی

ناول

# قاتله جلۍ!



**تاسو یواځې مونږ ته کتاب ډالۍ کړئ مونږ به یې ټول افغانستان ته ډالۍ کړو**

**خالد تکل**
**@ayapohizy**
**0779257478**

# قاتله جلۍ (ناول)

دا ناول تر اوسه پر انټرنټ نه وو دا ناول مې
پي ډي اف کړ او انلاين مي پر انټرنټ خپور
کړ
که تاسو سره د ناولونو کتابونه وي مونږ سره
په لاندې ادرسونو اړیکه ونیسئ تر څو یې
في ډي اف کړو او نورو هېوادوال هم ورڅخه
برخمن شي
ستاسو کشر خالد تکل


خالد تکل
@ayapohizy
0779257478

بسم الله الرحمن الرحیم

**کتاب پېژندنه:**

**کتاب نوم:** قاتله جلۍ!

**لیکوال:** ډاکتر شعیب منصور

**ژباړن:** زاهد صمدزی

**ډیزاین چارې:** عبدالهادي اثر

**خپرندوی:** مازیگر کتاب پلورنځی

**چاپ کال:** ۱۳۹۴ل/2015م

**چاپ شمېر:** ۱۰۰۰

خپرونو لړ: ۴۱

**د چاپ حقوق خوندي دي**

***

د مازیګر رڼا د ښار په دنګو ودانیو کمزوري او سره رنګه لګېده. د بوټونو ورېږ ټکا د پولیسو په حوزه کې حاکمه چوپتیا ماته کړه.

را روان ځوان تر څو مېزونو مخامخ تېر شو، د زندان پنجرو ته ودرېد. شېبه وروسته د پنجرو تر شا ولاړه نجلۍ رامخته شوه. ځوان لاسونه مروړل وروېې نجلۍ تر نظره تېره کړه. تور وېښته، الوتی رنګ او لوېدلو سترګو ته یې په ځیر شو. هغې هم مړاوي سترګې را پورته کړې، ځوان غلی و.

هغې خپل لاسونه په پنجرو پورې ونیول. ولاړ ځوان ته یې په سترګو کې وکتل، بېرته یې د هوال ته مخ کړ. ولاړ ځوان وروخپلې شونډې وخوځولې:

ــ د خدای خاطر ومنه! اوس هم ندی ناوخته نور دې دا ضد پرېږده. زموږ په ټولنه کې د ېرې بدی له دې کبله نه ختمېږي، چې موږ یې نه بیانوو. چُپ

پاتې کېږو. کله د خپل ضد له خاطره او کله هم د بل چا د ضد له کبله

ولاړې نجلۍ لا هماغسې په دېوال کې سترګې ګنډلې وې، څوان پسې زياته کړه:

ـ فکر وکړه، که ستا د کيسې په اورېدلو سره، يو کور هم بدل شي؛ نو د څومره نجونو ژوند به بدل کړي؟ او که سل او زر کورونه بدل شي؛ نو فکر وکړه، چې د څومره نجونو په ژوند کې به تغير راشي؟

لږ فکر وکړه، د څومره نجونو ژوند به سم شي. او که تصور يې وکړې، چې زر يا دوه زره کورونه بدل شي؛ نو د څومره نجونو ژوند به کېداى شي ښه کړي؟!

له دې خبرې سره نجلۍ ورو سترګې ور واړولې؛ خو څه يې ونه ويل. شېبه وروسته نجلۍ يو اخېستې وه.

***

ورو ټکېد:

ـ رئيس صاحب اجازه ده؟

ـ مهرباني!

له دروازې په عمر پوخ سړي، چې سپينو برېتونو يې پاسنۍ شونډه پټوله، راننوت. پر څوکۍ ناست کس ته مخامخ ودرېد، ورو يې وويل:

ـ ښاغلی ولسمشر صاحب! نن د اسيا غربيو هېوادونو استازو غوښتنه کړې، چې له تاسو سره وګوري د شنبې ورځ ورته وټاکم؟

ـ سمه ده.

ولاړ کس، مننه وکړه او بيا يې بله دوسيه د هغه مخې ته کېښودله په نرمه لهجه يې ور زياته کړه:



ـ دا د يوې نجلۍ دوسيه ده. سترې محکمې د مرګ سزا ور اورولې ده. هغې د تميز پر ځاى يو شرط اېښی دی.

ـ ناست کس پرانيستې دوسيې ته وکتل، په دوو ګوتو نيولې قلم يې وخوځاوه. پر کاغذ کرښو د دفتر چوپتيا ماته کړه. وروسته يې سترګې تنګې کړې:

ـ دا نو څنګه غوښتنه ده؟

ـ نپوهېږم، ماته هم عجيبه وه.

بيا په خبره کې ور ولوېد:

ـ نو ماته ولې راغلې ده؟

ـ دا يوه عجيبه غوښتنه ده. او د شرط پوره کولو اجازه هم يوازې تاسو ورکولاى شئ. دا نجلۍ وايي «زه د تميز (د دوسيې بيا پرانيستلو) پر ځاى غواړم، د اعدام پر تخته رسنيو ته خپله کيسه واوروم».

د ناست کس تندي ګونځې وکړې:

ـ نو ولې؟

ـ ښايې فکر کوي، چې له دې لارې به يې په خبرو کې اثر پرېوځي.

سر يې وخوځاوه:

ـ کوم سياسي اړخ؛ خو به نلري؟

هغه کړه:

ـ ولا رئيس صاحب! ښکاري؛ خو نه دا د يوې باعزته او با پردې کورنۍ نجلۍ ده.

شونډې يې سره ورو ستلې:

ـ ښه؛ نو سمه ده.

له همدې سره په کاغذ شنه کرښه کډه - وډه شوه. په موسک انداز يې

وویل:

-د ثبت یوه ویډیو حتماً ترې وغواړې!

-په سترګو صاحب

ولاړ کس ووت ولسمشر مخامخ دېوال ته په خېر کتل.

***

په تیاره کوټه کې د را پرې وړې کړکۍ رڼا، د زندان پنجرې له ورایه ښکارولې. ولاړې نجلۍ دواړه لاسونو پر دېوال پورې سرېښ کړي وو، د ښځینه غړې په اوږدلو یې ساه تېزه شوه.

-باید ولاړ شو. وخت مو پوره کېږي

نجلۍ سترګې سره ور وستلې. له دوهم غږ سره یې ساه اخېستل او ږده شول. شېبه وروسته یې ورو مخ را وګرځاو. په بارخوګانو یې اوښکې تلې په ولاړو دوو ښځینه پولیسو کې یوې اتکړې شرنګولې.

بلې یې دروازه خلاصه کړه. نجلۍ یې تر متو نیولې دباندې راوایستله د دراوزې ترڅنګ ګڼ کسان ناست و. چیغې شوې، په دوی کې پنځه نجونې چې تور حجابونو یې په تن و، پرې وغورېدې. بیا یې په غېږ کې کلکه کړه:

-زینب خورې!

چیغې خورا ډېرې شوې، ټولو په نوبت زینب ښکلوله، نورو ناستو کسانو په ړډو-ړډو ور کتل. زینب ټول تر نظر تېر کړل، شېبه وروسته سلګیو واخېسته د سپین وږمه وهښتو ښځې په ژړا کې وویل:

-زما لورکۍ! زما ځان، قربان..دې شم وی الله..

زینب یې پر لرګینه څوکۍ کېنوله د دوی ژړا او سلګۍ لا هماغسې اوږدل کېدې. وروسته زینب په غوسه وویل:



-دا ژړا-مړا مو نوره بس کړئ! د بر مو وژړل ټول عمر مو وژړل زندګۍ مو جوړه کړئ، هغه هم پخپله!

له دې خبرې سره یې د مور خواته مخ ور واړاوه، په ژړغوني غږ یې وویل:

-مورې!... دا مې اخېرې هیله وبولئ!

مور یې غېږ ته ور ړنګه کړه، ولاړې پولیسې غږ کړ:

-وخت دې پوره شو. راځه نو!

-زینب د مور په غېږ پسې کلکه شوه. شاوخوا ته ناستو کسانو هم خپلو مخونو ته لاس ونیول. پولیسو زینب تر لاسونو کش کړه او په چیغو-چیغو یې واېستله

شېبه وروسته د لوېې دروازې پله خلاصه شوه. شور ماشور زیات شو. زینب د مخامخ رڼاګانو له کبله سترګې نه شوای خلاصولای لږ مخته ورغله، پر ګڼو کسانو یې سترګې ونښتلې. ټولو په لاسونو کې کاغذونه او خینو کمرې نیولې وې. د خبریالانو په دې شورماشور کې پولیسانو هغه په زینو کې وخېژوله زینب د ختو پر وخت لږ پورته وکتل، چاغ؛ خو په قد لنډې سرې ولاړ و. برېتونه یې سپین ښکارېدل، غټې عینکې یې تر بارخوګانو رسېدلې. په خولۍ یې لوی نښان و.

زینب ګوښې-ګوښې تر ستېج ورغله، بدن یې ورته بېسکه اېسېده. لږ خیره شوه، رنګ-رنګ مایکونو اېښي و. په سترګو یې کمزوري راغله څنګ ته ولاړې پولیسې تکیه ورکړه. څنګ ته ولاړ برېتور سړي زینب ته ښه شېبه وکتل، بیا یې لاندې پر ولاړو کسانو نظر تېر کړ، ډنډه یې نبغه کړه:

-زما نوم سلیمان ډوګر دی. زه د دې بندیخانې رئیس یم. د سهار په پوره څلور بجې به وخت پای ته ورسېږي او په هغه وخت کې که کیسه پر هر ځای

ولاړه وه، ختمه ده. هله به؛ نو تاسې ژر تر ژره دا ځای خالي کوئ، کنه دا
ستاسو کمرې چې دي، ډېرې نازکې دي او زما د ګارډانو ډنډې ډېرې
کلکې!

د هغه له دې خبرې سره اړخ ته ولاړ پولیس په خپلو برېتونو ګوتې تېرې
کړې. بل یې غاښونه وچیچل. ډوګر د ډنډې په خوځولو زینب ته اشاره
وکړه، هغه مایکونو ته ورنږدې شوه. ورو یې شونډې وخوځولې:

-ښه؛ نو ستاسې په خیال به ما نن تاسې ولې دلته را غوښتي یاست؟

ولاړ کسان چې نجونې هم پکې وې، یوې لاس پورته کړ. د نورو له منځه لږ را مخته شوه، د زینب پر سر را ځوړندې رسۍ ته یې وکتل:

-زما په خیال چې تاسې غواړئ، پخپلو ګناهونو اعتراف وکړئ، تر څو خلکو ته درس ورکړئ او هغوی عبرت واخلي.

زینب په مړاوي غږ ور زیاته کړه:

-ښه بله وجه؟

یوه ځوان ور غبرګه کړه:

-ښایي تاسې غواړئ، وښیی، چې بې قصوره یاست.

زینب ژر ور بیا کړه:

-زه بې قصوره نه یم ما په ربښتیا هم قتل کړی دی؛ خو ګناهګاره نه یم!
بیا هم وایم
قاتله یم؛ خو ګناهګاره نه یم!

یو بل ځوان وویل:

-نو ایا؛ قاتل ګناهګار نه وي؟

-ضروري نه ده. محکمې زه له دې خاطره مجرمه وبللم ځکه، چې ما پخپله صفایي کې هیڅ هم وړاندې نه کړل



د کمرو ورې ټکا او رڼاګانو د زینب سترګې نورې هم سره وروستلې. یو بل کس وویل:

-نو چې په محکمه کې دې خوله چوله نه کړه، اوس ولې؟

-که ما هلته څه ویلي وای؛ نو ویل کېدل به، چې د ځان خلاصولو لپاره دروغ وایي. خیر؛ زما کیسه اوږده ده او وخت کم. کیسه درته پیلوم.

ولاړو کسانو خپل قلمونه پر کتابچو ونیول، زینب کیسه پیل کړه:

-کله چې هندوستان وویشل شو؛ نو ډېری کډوال د لاهور په شمول نورو ښارونو ته را کډه شول. همداسې یوه کورنۍ، چې له ډهلي څخه راغلې وه او یو څو ورځې یې دلته تېرې کړې. بیا کراچۍ ته په کوچېدو شول. په هغو کې یو خان یانې زما نیکه حکیم سعید حشمت الله خان و. هغه ته لاهور بلکل لکه ډهلي داسې ښکاره شو. کراچۍ یې پرېښوده او د دلته په ډهلي دروازې سیمه کې یو کور د هغه په پچه وخوت. په دې ځای کې یې هم د یوناني درملو دوکان و او هم یې په دوهم منزل کې کور جوړ کړ.

وخت تېرېده او ډاکټرانو د یوناني حکیمانو ځای نیو. د حکیمانو اهمیت ورځ تر بلې اوبو ووړ. زما د پلار ګټه هم ورځ تر بلې په کمېدو وه؛ خو په کور کې یې اولادونه ورځ تر بلې غټېدل

په هر یوه یا دوو کالو کې به د کوڅې خاله زموږ په کور کې وه. زما مور ۱۲ اولادونه دنیا ته را وړي دي که عزرائیل علیه سلام مرستې ته نه وای راغلی، خدای(ج) خبر چې لا به څه شوي وای؛ خو په هغه سربېره چې څه وشول، ښه ونه شول.

یوه ورځ چې د کرکټ لوبه روانه وه، پلار مې توله ورځ په دهلیز کې قدم وواهه، چې خاله هغه د مور کوټې ته ور وغوښت. زما اوس هم یاد دي، هغه

***

حکیم په موسکا وویل:

_اهو ! له څومره بېکاره خزلو وروسته مې په کور کې، د خاندان څراغ بل شوی او ته داسې منډلې خوله ناسته یې؟

ښځې پر سر د ترلې دسمال غوټه سسته کړه، سګرېټ یې خولې ته کړ، لوخړه تر حکیم ورسېده. درې پر لپسې لوخړې وایستلې. بیا یې د هغه پر سر سپینه خولۍ، اوږده ږیره او پوخ عمر تر سترګو تېر کړ، د لوګي له پووف سره یې وویل:

_ګوره حکیم صاحب ! ته له ماسره یو ځل تر دوکان پورې کښېنه شه یوه ضروري خبره درته کوم !

حکیم سترګې تنګې کړې:

_سمه ده. ته دوکان ته در کښېنه شه، زه مې د بچوني په غوږ کې اذان کړمه، درځم.

ښځه د سر په خوځولو سره روانه شوه. شېبه وروسته حکیم هم ورغلی. په زېږه لنډه نالې کېناست.

_څه خبره ده؟

ښځې په تلولي غږ وویل:

_ښه؛ نو ګوره حکیم صاحب ! د الله په کارونو کې د چا کار نشته، دومره خبره نده ؛ خو بس الله دې قسمت سم کړي.

حکیم تندی تریو کړ. ښځې شاوخوا ته په اېښو بوتلونو کې سترګې وګرځولې، بیا یې خوله وخوځوله:



_هسې په کتو ؛ خو دا ماشوم سم هلک ښکاري؛ خو...

حکیم خبره ور پرېکړه:

_خو څه..؟

_خو دا هلک ندی. داسې فکر وکړه، چې نجلۍ ده. ګوره د پرېشانۍ هېڅ خبره نه ده او بل ته؛ خو غټ پټ حکیم یې. یوناني دوایانې - مویاني باندې وخوره، ګوندې خدای کوم کرم وکړي

د حکیم تندی پراخ شو. سترګې یې کښته واچولې، مخامخ لوېې دروازې ته یې ګوته ونیوله:

_د خدای په خاطر، ته نوره دباندې ووزه !

ښځه ووتله حکیم خپل دواړه لاسونه لپه کړل په ژړغوني غږ یې وویل:

_دا څنګه امتحان دی مولا؟ له دومره لورانو وروسته.. دې چې را کړ، څه دې راکړل؟

حکیم ښه شېبه همداسې لګیا وو. له مخامخ دروازې د خلکو او موټرونو تت غږ راته

***

په عمر پخې ښځې ټکری سم کړ. په حیرانۍ یې وویل:

_دا ته څه وایې؟ څومره سخت زړی یې؟

حکیم لا په کوټه کې اخوا دېخوا نارامه قدم واهه له دې ځواب سره یې لاس د پالنګ پر ژۍ کېښود:

_ته ولې نه پوهېږې ! د دې د ژوندې پاتې کېدلو مطلب څه دی؟ ته یې لږ هم اندازه لګولی شې؟ اخېر به څه ځینې جوړېږي؟ ها؟

بیا یې د پالنګ تر څنګ اېښې زانګو ته ګوته ور اوږده کړه. شونډې یې

وچیچلې:

ـ ته پوهېږې، چې خلک او زمانه به ورسره څه وکړي؟ ها؟

ښځې د ماشوم مخ ته لاس ور اوږد کړ، په داده غږ یې وویل:

ـ خلک به؛ نو څوک خبروي؟

موږ به دا آوازه خپره کړو، چې د پېریانو سایه پرې لوېدلې ده. دباندې بې بې هم نه لېږو او... د لور خیال به باندې کړو. مکتب ته به یې هم نه لېږو، بیا؛ نو ته ولې وارخطا یې؟

حکیم لا هماغسې نارامه و. ژړ یې کړه:

ـ تر څه وخته پورې به یې پټ وساتې؟ یو کال، دوه، که...

ـ هو ټول عمر؛ خو کوم فکر چې تا کړی، زه یې سوچ لا هم نشم کړلای. څومره سخت زړه دې دی!

له دې خبرې سره یې په زانګو کې اېښی ماشوم ښکل کړ، حکیم چت ته وکتل، سوړ اسویلی وکیښ:

ـ تر دې خو یې چې لور را کړې وای!

ښځې له ماشوم څخه سر راپورته کړ او په ناهیلي غږ یې وویل:

ـ زما خو دې په اولادو زېږولو - زېږولو د بدن سېکه را کښلې او ستا لا اوس هم د زوی شوق ژوندی دی؟

د ښځې ژړا زور واخیست، حکیم ووت. د وره تر شا ولاړه نجلۍ خونې ته راغله

***

له رنګه تور هلک دروازې ته وکتل لمر د سرک پر نیمي ولاړ و. جارو ته یې زور ورکړ. له غولې مړه دوړه پورته کېده. غږ یې واورېد:



ـ حکیم صاحب تر اوسه ندی راغی؟

هلک پورته وکتل، د کوڅې خاله وه. بېرته پر جارو لګیا شو:

ـ بس اتي راځي!

شېبه وروسته، حکیم په زېنو کې را کښته شو. د خپلې چپنې تنۍ یې ترلې. ښځې وویل:

ـ حکیم صاحب سلام الیکم!

ـ وعلیکم

حکیم پر خپل ځای کېناست. جاروکښ د هغه څپلۍ د زېنو ښخ ته کېښودلې. ښځه د حکیم تر مخ د اېښې صندوخ دې خواته کېناستله. حکیم ته یې سر وخوځاوو. حکیم وویل:

ـ شفیق میا! ته لږ دباندې ووځه!

ښځې په ځوان پسې وکتل، هغه تر وره پناه شو. وروسته یې حکیم ته سر ور اوږد کړ:

ـ حکیم صاحب! په کور کې څه حال دی؟

ګوره شاید خدای(ج) د هغه ماشوم په خبره کې تاته مرسته رالېږلې وي!

حکیم سر ټیټ کړ، ښځې سترګې غټې کړې:

ـ هغه شېما نده شېما. دباندې ولاړه ده. شېما! او شېما راځه دننه!

د بوټونو وره ټکا شوه، حکیم تندی تریو کړ. راغلې ښځې چیلم کېښود په نارینه دوله دډ غږ یې سلام وکړ. حکیم د سترګو تر کونج ور وکتل په توره څېره کې یې غابنونه ژېړ ښکارېدل هغې وویل:

ـ موږ خبر شوي یو، چې ملایکو په تېروتنې سره زموږ یو شی تاته در کړی دی او دا خبره تر اوسه هم چاته نده معلومه زه یې پالمه ما داسې دېر را لوی کړي دی، هو!

د حکیم په تندي کې ګونځې نورې هم ډېرې شوې، ناستې ښځې ته یې ګوته نیغه کړه:

ــ تا دا ناولې ولې دلته را وستلې ده؟

هغې په زوته ور بیا کړه:

ــ مفت یې نه غواړي، بلا ډېرې پیسې درکوي!

ښځې لا خبره نه وه پوره کړې، چې د حکیم لاړې باد شوې:

ــ وځه! که بیا مې ته یا دا، یوه لا هم دلته لیدلې وه؛ نو وژنم مو...!

ښځې خبرې ته خوله جوړوله، تورې نر ښځې خبره ترې واخېسته:

ــ یو خو هغه ستا د هیڅ کار ندی، او بیا روپۍ هم درکومه سبا چې هغه پخپله ماته را روان وي؛ نو بیا به ښه وي؟ ها؟

د حکیم سترګې سرې شوې، په لاس کې نیولې تسبې یې ومروړلې یو دم له ځایه پاڅېد:

ــ تاسې دواړه له دې ځایه وزئ، که مو په ټېلو - ټېلو وباسم!

له ناستې ښځې تت وپت ورک شول، توره نر ښځې ته یې د پورته کېدو لاس وخوځاوه. هغه پښه نیولې شوه:

ــ اې حکیمه! که مې همدا اوس پنځه سوه نر ښځیانې ستا د دوکان مخې ته لوڅې لیړې ونه درولې؛ بیا به پر مخ را تو کې. کور به دې تبا شي! هو!

کړس شو. تورې نر ښځې پر تندی لاس ونیو. وړوکی نالبکی د دروازې خواته ورغړېد، پتاسې دانه - دانه شوې، د حکیم چیغې په کوڅه کې تاو را تاو شولې:

ــ حرمونې! ووځه له دې ځایه!!!

په شیبه کې دوکان خالي شو. حکیم په مخامخ ځړېدلې جنترۍ کې



سترګې خښې کړې، چورت یووړ.

***

زینب لاړې ټېرې کړې، پر څنګ ولاړې پولیسې د اوبو ګېلاس ورته ونیو. بیا یې خوله وخوځېده:

ــ د خلکو له دې ډول خبرو او کارونو سره د ابا په زړه کې دومره نفرت زیات شو، چې هغه پر نوي زېږدلي ماشوم باندې له نوم اېښودلو هم انکار وکړ او ویې ویل:

ــ دا نو نوم ته څه اړتیا لري. څه مکتب مکتب ته؛ خو نه ځي

مور په خپله د هغه نوم سیف الله کېښود، چې بیا له مینې سیفو شو. د پلار وېره؛ خو هسې هم په ټول کور باندې خوره وه. سیفو چې د لسو کالو شو؛ نو کله - کله به ورغی او د ابا بوټونه به یې په پښو کړل

خو هغه د ځان لپاره د ابا په سترګو کې یو اځې کرکه لیدلې وه. کله چې به مې پلار له دوکانه را پورته شو، یا به له بله ځایه راغی؛ نو دی به په پورته کوټه کې پټ شو.

زموږ کور په چت باندې یوه خونه درلوده، چې پر دېوالونو باندې یې رنګارنګ پخواني انځورونه کښل شوي و. دا ډېر پخواني انځورونه وو. هر یوه یې بېله کیسه بیانوله. سیفو به همېشه په چورت کې ورته تللی و او دا خونه یې د ژوند او وخت تېرولو جونګړه ګرځولې وه.

هغه به کله نا کله له بېترۍ څخه تور لرګی را وکېښ او یا به یې قلم او کاغذ پیدا کول او بیا به یې هغو انځورونو ته په کتو رسمونه کښل. ښوونځي ته تګ؛ خو د چا په خیال کې هم نه راتلی. ابا مې له یوه باوري ملګري سره د سیفو راز شریک کړ. هغه سړي هم بې فیس اخېستو څخه

سیفو ته د درس ورکولو ومنله

څو ورځې تېرې شوې. یوه ورځ مې د پلار ملګري ته دوه درې ورړله، چې له وره مې ور وکتل. هغه د سیفو پر بارخوګانو باندې خپلې پنډې ګوتې ګرځولې. ما خپل کنترول له لاسه ورکړ. او په زوره مې ناره کړه:

ـ سیفي د باندې را ووځه! او دې ته ووایه، چې له دې ځایه ولاړ شي!

***

له دې ناري سره، پنډر سړی په منډه له کوټې ووت. زینب ورغله، سیفو یې پر اوږه وښوراوه:

ـ خبردار! که دې بل واري څوک داسې کار ته پرې اېښي وو!

له همدې سره یې هغه په غېږ کې کلک ونیو، هغه هیڅ نه ویل. بیا یې د سیفو په تورو وېښتانو کې ګوتې تېرې کړې او ښکل یې کړ. پر مخ یې اوښکې راغلې. سیفو ژر ور پاکې کړې. زینب وویل:

ـ سیفو جانه! په غامبورو باندې یو اخې د کور خلک مینه کوي. که بل څوک یې وکړي، بیا ښه خبره نده. پوه شوې!

سیفو سر وخوځاوه. د زینب پر اوږه یې سر کېښود. شېبه وروسته یې د هغه سر له خپلې اوږې پورته کړ:

ـ دا څومره وخت کېږي، چې تا هیڅ رسم ندی اېستلی. خیر دی نن یې وکاږه. سمه ده؟

سیفو بیا هم څه ونه ویل؛ خو موسکا یې د زینب تندی پراخ کړ، هغې پسې زیاته کړه:

ـ ته ودرېږه چې ابا راشي. بیا ګوره، چې زه د هغه سړي شکایت ورته وکړم، څرمن به یې پرې وباسم.



زینب لا دا خبره نه وه خلاصه کړې، چې د سیفو سترګې غټې شوې. زینب شاته وکتل. پلار یې پر زېنو کې را وخوت. په تونده لهجه یې وویل:

ـ ته د باندې ووځه!

زینب په ولاړېدو کې له خپلې اوږې تکړی راپورته کړ او ووتله. حکیم د دروازې دواړې پلې پسې کلپک کړې. زینب لاندې پوړ ته منډه کړه. د ژړا انګازې تر لاندې رسېدلې. حکیم د څپلۍ له هر ځلي وار سره ویل:

ـ سپیه! حرمونې! ما ته معلومه وه، چې ته به داسې ګلان کړې...

د څپلیو ترپا او چیغې لا هماغې اورېدل کېدې، چې زینب او مور یې په منډه را وختل. مور یې ور تېله کړ، بند و. دواړو څېرې ورته بندې کړې:

ـ دروازه خلاصه کړه! د خدای په خاطر... دا څه کوې، مړ به یې کړې!

شېبه وروسته، په ژړا کې د کلپک غږ هم ورک شو، حکیم بېر سر را ووت. مور یې زوی په غېږ کې ونیو. شېبه وروسته زینب سیفو پر کټ پرېست. د شا لمن یې ور پورې وهله، سترګې یې ټینګې کړلې. په لاس کې د نیولي بوتل سر یې خلاص کړ. له هر ځل ملا موښلو سره یې اسوېلي اورېدل:

ـ ډېر درد کوي؟

ځواب یې وانه ورېد. د مازیګر لمر د سیفو تور وېښته بربښول.

***

له دې سره د زینب له سترګو اوښکې راغلې. د لاندې ولاړو کسانو قلمونه په تېزۍ خوځېدل. دې پسې زیاته کړه:

ـ ورځې او شپې تېرېدلې. سیفو به ډېر وخت زموږ د کور تر څنګ مکتب ته له بامه ورکتل. او یا به یې له خویندو سره لوبې کولې. هغه به له موږ سره پخلی هم کاوه. د هرې خور به ورباندې جنګ و. کله - کله به چې د

شپې پر ډوډۍ خوړلو ناست و، ابا ته به یې د سترګو تر کونجو کتل
یاد دي، یوه شپه سیفو د ابا څنګ ته ورغی. د هغه چې ور پام شو، زما
اوږه وخنډله دی بېرته د مورجانې په غېږ کې پټ شو. کله - کله به مو پټ
پټانی کاوه، موږ به د هغه سترګې ور وتړلې. یوه ورځ هغه په پلار لاسونه
تاو کړل هغه لویه چیغه پرې وکړه. سیفو په منډه خپلې کوټې ته ولاړ.

یو څو کاله وروسته زه واده شوم. دا چې موږ نجونې ډېرې و، پلار مې په
پټو سترګو زما کوژدنه کړې وه؛ خو کوم کور ته چې زه ولاړم، هلته هم د
ګټلو کس یو و او د خوړلو لس.

ما هم پرېکړه کړې وه، تر هغو چې د کور حالات سم شوي نه وي؛ زه به هم
اولاد نه راوړم. د خاوند لاس مې هم په کنترول کې نه و. خبرې او جنګونه
ورځ تر بلې ډېرېدل. پایله دا شوه، چې زه د خسر کور پرېږدم. کله چې د پلار
کورته بېرته راغلم. له سیفي سره - سره نورې نجونې هم پېغلې شوې وې.
یوه ورځ مې خویندو له سیفي سره پر بام کرکټ کاوه. په کور کې ښه شور
و. ما مې له مور سره د سترخوان ویراوه (هواراوه)، چې ابا راغی. سیفو
پورته منډه کړه، زه هم پسې ورغلم ابا مې په ډوډۍ کېناست. په هغه ورځ
یې هم تندی تریو و.

***

حکیم پر دسترخوان اېښې ډوډۍ ته کتل. عایشې په دوو کاسو کې لږ
وریجې او دال واچول څنګ ته په عمر پخې ښځې یوه ډوډۍ څو ځایه کړه.
حکیم ورو وویل:
ـ زه د یو څو ورځو لپاره په مال راوړلو پسې ځم!
ښځې یې ژر وربیا کړه:



ـ خرخ راته پرېږده بیا ولاړ شه د دې نوبت راغلی دی، چې سبا مېلاد
النبي (ص) دی او د صدقې لپاره هیڅ هم په کور کې نشته
شناوۍ ډېره یې وښورېده:
ـ صدقه به حتماً ورکړو. زه به یو څه وکړم
یوې لور یې په بوڅو شونډو وویل:
ـ مورې! بیا دومره لږې وریجې؟ هره ورځ وږې پاتېږم!
له ځایه پورته کېدو ته یې ځان جوړ کړ، عایشې یې لمن ونیوله خپله
تږته ډوډۍ یې د هغې مخته کېښودله په عمر پخې ښځې په ناهیلۍ زیاته
کړه:
ـ د ډوډۍ خلک دومره ډېر دي، او ستا ګټه ورځ تر بلې کمېږي
حکیم سر وخوځاوه، ښځې پسې وغځوله:
ـ څه به کېږي اخېر؟
ناستو نجونو یو بل ته برګې - برګې اړولې. حکیم پر برېتو لاس تېر کړ:
ـ له نسه بیا څوک مړه شوي؟ په هغه باور وساته موږ؛ خو هم دوولس
ورونه او خویندې وو او پلار مو هم تنها د ګټې سړی و. ویې پاللو کنه!
عایشې تندی تریو کړ، سر یې وخوځاوه. حکیم پسې زیاته کړه:
ـ له لوږې هم څوک مړه شوي دي، ته وو وایه؟
بیا یې په سترخوان کې اخوا دېخوا وکتل، په تروه تندی یې ورته کړه:
ـ ډوډۍ؛ خو له دې خاطره کمېږي، چې ته یې ښه پخوې!
بیا لږ موسک شو. د ټولو خولې هکې پاتې شوې په تمسخر یې وویل:
ـ تاته خو خدای دوه هنره درکړي دي یو ډوډۍ ښه پخوې او بل لورانې
ښې زېږوې...
د پخې ښځې تر څنګ ناستې نجلۍ کړې ګوله بېرته کېښودله، یوه بل

***

سیفو د زینب تر مړوند لاس ایستلی و. هغې پر سر ښکل کړ، په موسک اندازې وویل:

-سیفو جانه! اوس؛ خو ځوان یې. پخپله دې ډوډۍ خوره!

هغه په بنده-بنده ژبه وویل:

-خورې! ته چې نه وې؛ نو ما به پخپله خوړله اوو!! که تاته!بده در لګېږي؛ نو!!! بیا یې پخپله خورم.

-بده نه را لګېږي سیفو! زه غواړم، چې ته یې پخپله وخورې. په خپلو پښو درېدل او بسیا کېدل زده کړې، نارینه شې.

سیفو په توتلې ژبه ور بیا کړه:

-نارینه توب؛ نو څه مشکل کار دی. په حقه او ناکه خبره تندی تریو ونیسه، اواز دې ډبل کړه او په هره خبره د کور خلکو ته ښکنځلې کوه او وهه یې!

زینب په خندا شوه:

-زه تاته د ابا غوندې کېدلو نه وایم زموږ ګاونډی، معلم صاحب او مصطفی؛ خو هم شته کنه؟

سیفو موسک شو. په چاغو غومبرو کې یې خطونه پیدا شول:

-مصطفی ورورک ډېر ښه سړی دی.

***

په عمر پاخه سړي خپلې ډبلې عینکې ښکته کړې بالښت ته څنګ وهلې خوان د کتاب پاڼه واړوله بیا ښې خواته وکتل، کووج ته ناستې نجلۍ قلم



خوځاوه. سړي وویل:

-سکینې لورې! اتې یې بس کړه. ولاړه شه، په بام د حکیم له لورانو سره لږ سات تېر کړه.

سکینې سترګې وموږلې، پورته یې وکتل، په اسمان کې سپوږمۍ ګرده ښکارېدله ولاړه شوه، کتابونه یې ټول کړل شېبه وروسته د مخامخ دېوال خواته ورغله د دېوال تر سوریو خبنتو یې ناستې نجونې سهي کړې.

عایشې او نورو کیسې کولې:

-پېږۍ هغه مجله مې د ابا تر کټ لاندې پټه کړې وه.

ټولو وخندل، اسما پسې زیاته کړه:

-توبه خدایه که ابا لیدلې وای؟

د سکینې له غږ سره د ټولو خندا ودرېدله:

-چیششششت. حکیم کاکا؛ خو به نه وي؟

ټولو په یوه خوله وویل:

-نه نه راځه، راځه!

بیا د دېوال ښې پلو ته ورغله، په ناستو نجونو کې یوې بلې ته په غوږ کې وویل:

-زما خیال دی، حلوا یې را وړې ده!

سکینې غټ سوري ته مخ کاسه برابره کړه:

-سلام خاله! مور مې دا حلوا درته رالېږلې!

له دې خبرې سره په کټ کې غځېدلې، ښځې ټکرې پر سر سم کړ:

-وعلیکم لورې! مور دې چېرې ده؟

عایشې غاب ترې واخیست. سکینې وویل:

-هغه هم راځي؟

پر کټ له ناستو نجونو یوې وویل:

ــ مه دربېږه. عایشې حلوا دلته راوړه!

عایشې سکینې ته مخ ور واړاوه:

ــ نن ټوله ورځ نه وئ، خیر و؟

ــ د پوهنتون ازموینې دي، ځکه؛ نو... ها داده، مور مې هم راغله

عایشې د نورو نجونو خواته منډه کړه. د سکینې پر ځای د سوري چولډ
پاخه عمر د ښځې مخ ډکه کړه:

ــ اسلام علیکم ثریا خورې!

هغې سلام ور بیا کړ، په څنګ کې ناستو نجونو ګوتې څټلې. د عایشې
مور په خندا کې وویل:

ــ نجونو! لږ خو به مو کتل نه وي، چې خاله مو پکې توکلي وي

ټولو په یوه وار وخندل. له دې سره سم لوړ غږ واورېدل شو:

ــ ورېرو! که یې بوره ډېره وه؛ نو پوه شئ، چې خاله مو نه؛ ما پکې
توکلي دي.

له دې سره یې ټولو کټ - کټ وخندل. په عمر پخې ښځې ټکری تر تندي
راکش کړ. شېبه وروسته عایشې بغل ته وکتل، د ټېټ دېوال تر سوري یې په
ځوکۍ ناست ځوان دې ته کتل. دې وموسل، ځوان په لاس کې نیولې خلته
پورته کړه. عایشې سر وښوراوه.

د پاخه عمر سړي له بامه کوځې ته کتل.

***

حکیم ور پرانیست. پر دسترخوان پرتو مېوو ته یې وکتل. شاوخوا لس
کسان ناست و. حکیم کېناست. له روغبړ وروسته، یوه وویل:



ــ حکیم صاحب ته لږ ناوخته راغلې او موږ هم بې له دې، چې له تا اجازه
واخلو یوه ذمه داري در له غاړې کړه او هیله ده، چې انکار ونه کړئ!

ټولو سرونه د هو په مانا وښورول. حکیم حیران شو:

ــ حاجي صاحب! چې څه کولای شم، په سر سترګو.

سړي زیاته کړه:

ــ موږ د جومات جوړولو کمېټې بنسټ کېښود او نثار صاحب به یې
مشر وي د خزانه دارۍ لپاره مو؛ تر تاسو صادق انسان سترګو ته رانغی. د
ټولو همدا رایه ده.

حکیم په موسکا شو:

ــ دا ستاسو لورینه ده، خو...

په څنګ ناست کس، چې سور دسمال یې پر سر و، وویل:

ــ نثار صاحب په بسم الله کې پنځوس زره روپۍ اچولې. ها دا درسره
وساتئ.

حکیم د پیسو بنډل ترې واخیست. شونډې وخوځېدې:

ــ جزاک الله قبولې دې وي.

له همدې سره ټول ولاړ شول. هر یو په خپله لار روان شو.

***

پر تخته ولاړه نجلۍ لږ موسکه شوه:

ــ له ابا ماسیوا، موږ ټولو د معلم صاحب له کورنۍ سره مینه درلوده. د
هغه مېرمنه زما د مور یوازینۍ ملګرې وه. د معلم صاحب کورنۍ زموږ
لپاره یو ښه مثال او نمونه وه. د هغه له یوې معمولي تنخوا سربېره پر دوارو
اولادونو طب لوست. په داسې حال کې، چې موږ خوېندې له پنځمه وروسته

پر کور ناستې و.

ځینې وختونه به په کور کې د کار خلګ دومره ډېر و، چې کله - کله به کار کم شو او مور ته به نوبت نه را رسېده. د کور دېوالونه مو له مکتب سره نښتي و؛ خو له مور سره یې د کیلومترونو واټن درلود. شور او ځوږ به یې نارامولو.

کله چې به ابا نه و، زموږ کره به لکه اختر داسې حال و. ټیپ به مور را واخیست او په راډیو کې به مو سندرې اورېدلې...

ترما ورې خور عایشې او زموږ د ګاونډې زوی مصطفی له ماشومتوبه سره مینه وه. هغه تر موږ ښه وه او له هغه به یې ډېر شیان زده کول.

وخت روان و. د ابا ګټه ورځ تر بلې کمېده؛ خو د ماشومانو پیدا ښت نه کابو کېدی. له سلما او حفصې وروسته مې یو بل ورور او خور هم دنیا ته راغلل؛ خو بېرته یې له نړۍ سره خدای پاماني وکړه.

یو ځل چې ابا د دوکان په سودا پسې بل ښار ته تللی و؛ ماته موقع پیدا شوه. په هغه وار مې هم مور په اولاد ناروغه وه. ما هغه ډاکټر ته بوتلله

بیا څو میاشتې تېرې شوې یوه ورځ زه له مور سره ناسته وم، چې پلار مې راغی.

***

په کوټه کې ناستې پخې ښځې او زینب خپل ټکري سم کړل. حکیم وویل:

- زینب ته دباندې ووځه!

هغه ووتله. حکیم د دروازې پلې پسې پورې کړلې. ورغلی، پر کټ د ناستې ښځې څنګ ته کېناست.



- لاس دې پاک دي؟

ښځې د هو ټکی تر خوله وکېښ:

- په دې یې کېږده او قسم وخوره، چې تا خو به له ځان سره څه نه وي کړي؟

ښځې د حکیم په لاس کې نیولي کتاب ته، چې په شنه ټوټه کې پېچل شوی و، وکتل:

- څه مطلب؟

حکیم وویل:

- دا دومره وخت وشو، ولې څه نه کېږي؟ ها؟

عمر؛ خو دې لا هم تر اوسه سم دی!

ښځې غوږ وګراوه، څه یې ونه ویل. حکیم چیغه کړه:

- دا خوله به دې چوله هم کړې، که در کړم یوه د غوږ تر بېخ!

ښځې ژر لاس مخ ته ونیو. د ځنځیر کړپا شوه. حکیم وره ته وکتل، زینب ورغږ کړ:

- ستا د پوښتنې ځواب له ما سره دی، ابا!

حکیم وروولاړ شو. زلفی یې خلاصه کړه. وریې راکش، بند و. ناره یې کړه:

- دروازه دې ولې ځنځیر کړه؟

- ځکه چې زه نن تا ته داسې خبرې غواړم وکړم، چې نه؛ خو به تر اوسه چا کوم پلار ته کړې وي او نه به یې وکړي

هسې؛ خو باید دا خبرې مور درته کړې وای؛ خو ستا له وېرې د هغې له خولې سپونږ لا هم نه را وځي.

حکیم له کاوره ولړزېد:

ښه! ستا خو ډېر ښه اواز را خېژي. ته وغاپه!

ـ ما د مور عملیات وکړل. هغه هم ستاسو له خاطره.

حکیم ور وتساوو:

ـ خدای دې تا لعنت کړي. دا دې څه وکړل؟

ته پوهېږې، چې تا څومره لویه ګناه کړې ده، ها؟

حکیم لاسونه پورته ونیول. له ډېرې غوسې لا هماغسې لړزېدی.

ـ د خدای په کارونو کې دې ګوتې وهلې دي. د ژوند ورکولو والا؛ خو هغه دی!

زینب ژر ور بیا کړه:

ـ ښېښکه چې دی.

لیکین د دې مطلب دا ندی کوم، چې تا ځینې اخېستی دی. د دې مطلب دادی، چې هغه مور ته د زندګی پیدا کولو صلاحیت یې را کړي دی!

ـ حکیم په ږدو سترګو وره ته کتل. زینب پسې زیاته کړه:

ـ حکیم شفاعت الله به څومره اولادونه پیدا کوي او معلم اختر حسین څومره. دا خدای پاک نه کېني، چې پرېښتو ته یې ورولیکي.

د حکیم غږ له ډېرې خواشینی خپ شو:

ـ استغفار ووایه استغفار، پلیتې!

زینب په ځای کې را وڅرخېده:

ـ اف خدایه! ته په دې دومره غټه خبره ولې، ځان نه شې پوهولای؟ چې هر څومره ډېرې خولې وي، هغومره ډوډۍ غواړي!

حکیم خبره ور پرې کړه:

ـ او ته پدې ولې نه پوهېږې، چې د رزق ورکولو ذمه داري هغه پخپله اخېستې ده!



ـ نو بیا به ضرور له ملایکو سره زموږ ادرس غلط شوی وي ځکه دلته؛ خو نه رارسېږي دا رزق!

په دې دنیا کې، چې دا دومره خلک له لوږې مري.. ایا؛ دا له دې خاطره ده، چې الله پاک خپله ذمه واري سمه نه پوره کوي؟

حکیم په زوته وویل:

ـ نعوذ بالله ووایه پلیتې، نعوذ بالله..

زینب یې خبره پرې کړه:

ـ نعوذ بالله ته ووایه پلاره!

ځکه زه؛ خو د الله(ج) عزت لوړوم. د هغه د نقطه ی نظر سم تکي در ښیم

حکیم ورته کړه:

ـ سبحان الله، سبحان الله اوس به ته ماته د الله(ج) نقطه نظر را په ګوته کوې؟

زینب سترګې پټې کړې، حکیم پسې زیاته کړه:

ـ تا د هغه د رسول(ص) دا خبره ولې هېره کړې، چې د قیامت په ورځ باید د هغه امت تر نورو هغو ډېر ښکاره شي؟

له همدې سره زینب د وره ځنځیر خلاص کړ، د حکیم مخته یې لاسونه جوړه کړل:

ـ رحم وکړه پلاره، رحم!

دومره لوی پیغمبر(ص) څنګه داسې خبره کولای شي. هغه به دا ضرور ویلي وي، چې د هغه امت دې ډېر وي

لکین په رتبې، علم، عزت او پرمختګ کې دې ډېر وي

هغه څنګه دا ویلای شي، چې که خره هم وي؛ بس وي دي که لوږې مري هم؛ خو بیا دې هم تر هر چا ډېر وي؟

کړس شو، زینب مخ ته لاس ونیو. په ژړغوني غږ یې وویل:

ـ نارینه یې کنه؟

چېرته چې بې ځوابه پاتې شوې، هلته لاس چلوې!

حکیم ولاړ و، ژړ – ژړ یې سا اېستله زینب په تروشه وروکتل:

ـ ابا ته؛ خو مور ته یو ځل وګوره! څه دې ترې جوړه کړې ده. کاش چې زه هغه وای، او په هر نارینه مې یو ماشوم پیدا کړی وای، هله به تاسې ته درک در معلوم شوي وای...

له دې ځل ترس سره، په کټ ناسته مېرمن جګه ودرېدله حکیم زینب تر کوشیو ونیوه، مخامخ یې پر لویې هنداري ور پورې وهله حکیم چیغه کړه:

ـ پوهه ـ کړه دا.

که بیا یې دا خبرې کړې وې، مرګ به یې زما له لاسه وي!

شېبه وروسته حکیم پر کټ پرېوت. مور او لور په سلګیو کې له خونې ووتل.

***

پر سړک د روانو خلکو او بایسکلونو شور خورا لوړ و. را روانو دوو کسانو له یوه بل سره خبرې کولې، یوه یې وویل:

ـ ښه شو، اول به حکیم ته د جومات روپۍ وسپارو بیا به ځو. که خدای کول، بس انشاالله د مدرسې دېوالونه هم په را پورته کېدو دي.

دوی یوې دروازې ته ودرېدل، په وره لوحه لیکلي و (دهلي درملتون).

دوی د ټکولو لپاره لاس اوږد کړ. حکیم ور پرانېست. سړي وویل:

ـ حکیم صاحب! په څه ښه موقع راغلو. ته هم لکه چې دباندې تلې. خیر، ګوره دا څلوېښت زره نورې پیسې هم در واخله موږ خو چې کار لرو.



حکیم د پیسو بنډل ترې واخېست. د سړي مټ ونیو:

ـ ګورئ! اما له تاسو څخه څو ځله هیله وکړه، چې دا ذمه واري نوره زما له غاړې واړوئ!

سړي ژړ وربیا کړه:

ـ حکیم صاحب! شېخ صاحب لندن ته تللی دی، چې څنګه راشي بیا به ګورو. وفی امان الله.

حکیم بېرته په وره ننوت، سړي په حیرانۍ وروکتل او روان شول.

***

د ماشین وره ټکا ختله، عایشې به یو یو ځل نرۍ سپېنسې پر غابښونو پرې کړې.

سیفو وویل:

ـ عایشې خورې! د شپېلۍ غږ دی.

هغې د ته وکتل، خندنۍ شوه:

ـ دا ته څنګه هر وخت تر ما مخته په خبرېږې ها؟

له همدې سره یې منډه کړه، پر کټ اېښې ټکرۍ ور پورته کړ او د بام سر ته وختله

د ټیټ دېوال څنګ ته ودرېدله، د ورې کوټې پر بام ناست ځوان وویل:

ـ دلته را وخېژه!

دې تندی تریو کړ، په موسک انداز یې وویل:

ـ لېونی شوی خو نه یې؟ خلک به څه وایي!

ځوان را کښېناسته شو، د دېوال بلې خوا ته پر کټ کېناست:

ـ زه غواړم ته هم په ژوند کې یو څوک وو اوسې.

هغې په خندا ور بیا کړه:

ـ هو هو ولې نه، ضرور ضرور...

ځوان پسې زیاته کړه:

ـ رښتیا وایم عایشې! که زه او ته په هر څه کې لاس سرور کړو؛ نو دنیا به حیرانه کړو.

هغه وموسېده:

ـ زه نه غواړم، چې نوره تباهي جوړه کړم. همدا ستا تباهي بس نده؟

ـ ګوره! همېشه په ذهن کې د ژوند یو ښکلی انځور جوړه، کنه؛ نو د ژوند شېبې سختېږي او بیا چې ته زما خوږه مېرمنه شې، طب هم پسې ولولې، او یو شخصیت شې، هلته به؛ نو زه ډېر خوشاله شم.

دواړو جوړه وخندل. د اوبو ټانکۍ پر سر ناستو بغدادي کوترو غومبر واهه.

***

پر تخته ولاړه نجلۍ لږ موسکه شوه:

ـ عایشې به له مصطفی سره ډېر وخت همداسې لیدل. د دوی په مینه باندې به زموږ زړه ته هم خوشالي راتله. هغه یوه ورځ له مصطفی او خور سره یې په ګډه ښار ته ولاړه. کله چې راغله ډېره خوشاله وه. څو ورځې یې کیسې نه ختمېدلې.

***

ناستو ټولو نجونو په عایشې کې سترګې ګنډلې وې. سیفو په کاغذ قلم خوځاوه، هغې په خوشالۍ وویل:

ـ اف څه وایم تاسې ته




په لاهور کې داسې ـ داسې ځایونه و، چې خولې به مو اوبه ورته وکړې مصطفی وېل تر اوسه؛ خو مې د یوې روپۍ څلور انۍ هم نه دي درښودلې او بله دا چې په انارګلي بازار کې مو پکوړې هم وخوړې د مصطفی خوارکي مې ډېرې روپۍ هم ور خرڅې کړلې.

یوې بې لاس تر زنې ونیو:

نور دې څه ولیدل. خدای خبر، چې موږ به یې هم کله ووینو کنه؟

زینب له دېواله را جلا شوه:

ـ سیفو څومره ښکلی انځور دې کښلی دی. عایشې ته دلته راشه!

هغه نږدې ورغله. سترګې یې برندې کړې:

ـ اې دادې څه کړي؟ دا د مصطفی مجله دې ولې خرابه کړې؟

زینب په موسکا ور بیا کړه:

ـ تاته مجله په نظر درغله؛ خو د سیفو انځورګرۍ ته هم لږ وګوره!

عایشې انځور ته ځیره شوه، زینب په هیله مندۍ ور زیاته کړه:

ـ عایشې! کاشکې مو، کوم د انځورګرۍ کورس ته لېږلای شوای!؟

دواړو په ګډه وویل:

ـ کاش...

***

پر تخته ولاړه نجلۍ، په مړاوي غږ کې لږ موسکه شوه:

ـ کله چې به د کرکټ لوبې وې؛ نو زموږ په کور به یو اختر وي، خو ابا؛ خو د کرکټ بېخي لېونی و. لیکین په راډیو اورېدلو ـ اورېدلو او کله ـ کله د مصطفی دوی په کور کې په تلوېزون کتلو سره موږ هم ډېرې پرې پوهې شوې وو. د لوبې له ګرمېدو سره به د ابا د تسبو ټکا هم ډېره شوه

او پر دوعاوو به یې زور راووست

یوه ورځ ابا په دلیز کې قدم واهه، په هغه ورځ هم د کرکټ لوبه روانه وه زما دوې خوېندې پر چپرکټ ناستې وې او لوبیا یې پاکوله، سره چیغې کړې

***

پر کټ ناستو نجونو څو شېبې پس پسی درلود. ورسته یې یوې بل ته نوکاره ورولګوله یوې یې لویه چیغه وکړه:

– اخ... مورې دېته؛ خو وګوره، چې چا ته دعا کوي!

تول هک پاتې شول حکیم تنده تروه کړه:

– اوس به دې تک هم ترخولې را ووځي او که درکړم یوه د غوږ...

اسما په تېښتې او وېرېدلې غږ وویل:

– ابا دې دوعا کوله، چې د تندولکر سلیزه پوره شي.

دوهمې ژړورپرې کړه:

– چتیات وایې ابا!

هغې ژړوربیا کړه:

– نو دروغ وایمه! سا دې وځي، چې هغه اووټ شي.

دوهمې په غوسه ورته کړه:

– بنه! او دا ته، چې د افریدې لپاره مرې! هغه؛ خو هم ورته ووایه!

حکیم چیغه کړه. تسبې په غولې دانه – وانه شوې:

– بس! بس! کړئ دا چتیات مو!

یو قدم ورمخته شو، په کونج کې ناستې ښځې ته یې ګوته نېغه کړه:

– ستا په سرپرستی کې تولې دومره پلیتې شوې دي، چې په کرکټ هم



دبې حیابی امکان پیدا کولای شي.

هغې څه ونه ویل. ناستو نجونو ځمکې ته کتل. د حکیم ګوته ورپرېدېده:

– تر هغو، چې زه بېرته را ځم؛ نو تاسې تولې باید په جای نماز ووینم!

دوره پله یې تېله کړه، مخ یې شاته را وګرځاوه:

– وامو ورېدل!

د حکیم له وتلو سره زینب په غوسه له زېنو را کښته شوه، خوله یې وخوځېده:

– لږ هم عقل لرئ، چې تاسې دواړو څه وکړل؟

په داسې یوه کور کې، چې هلته څوک له سا کښلو ورهاخوا د بل شي اجازه نلري، هلته به ستاسې دا خبرې څه ګټه ولري؟

د کټ ښې خواته ناستې نجلۍ تندي ته کوتان ورکړل:

– خو دې شروع وکړه.

– او دې هم زه نوره په افریدې - افریدې ویلو تر پزې را وستې وم.

زینب وربیا کړه:

– سمه ده، اوس یې نو زغمئ!

په عمر پخې ښځې په ساړه غږ وویل:

– اوس که هر یو خپل خیر غواړئ؛ نو مسلې مو درواخلئ او د کرکټ ګټلو لپاره په نفلونو ودرېږئ

له همدې سره یې د پرانیستي قران کریم پاڼه واړوله حکیم په دوکان کې کېناست څو دقیقې ووتې. به په هرو څو شېبو کې به د راډیو له شورڅېر بدو سره حکیم وموسېد. وروسته یې د راډیو غږ یې نور هم لوړ کړ:

(پاکستاني لوبغاړي خپله وروستی منډه په چټکۍ سره جوړوي هله - هله... وروستی چانس، اخېري منډه..." افففف... ال بې ډبیلو... ل

نېکه مرغه داسې ښکاري، چې هند خپل وروستي لوبغاړی هم له لاسه ورکړ. اوس به پرېکړه درېيم امپاير کوي. که چېرته هندوستاني لوبغاړی سچين وسوځي؛ نو لوبه پاکستان ګټلې. دوی خپلې خوښۍ لمانځي... درېيم لوبڅار به اوس خپله پرېکړه په شنه او سره اشاره را وښيي. او ففف ناټ اوټ...).

د حکيم رنګ والوت په بېړه له ځايه پاڅېد، راډيو يې ورسره واخيسته، په منډه پورته وخوت په دهليز کې ټولې ناستې نجونې د وره له خلاصېدو سره ورپېدې حکيم په غوسه وويل:

ـ اخير مو؛ باندې وبايلوده کمبختانو!

که له زړه مو دوعا را وتلې وای؛ نو قبوله شوې به وه کنه؟

کړس شو. د راډيو بېټرۍ او ټګري هرې خواته خواره-واره شول. اسما ورو شونډې وخوځېدې:

ـ داهم کېدای شي، چې زموږ والو ښه لوبه نه وي کړې!

حکيم سور او شين واوښت.

ـ بس! بندې کړئ دا خولې مو؛ بس!

له همدې سره پر مېز د پراته جک خواته ورغی. په ګيلاس کې د اوبو شورا شوه، زينب وويل:

ـ ته سم وايې سارا.

موږ؛ نه پوهېږم، چې له دعاوو څخه څه جوړ کړي دي دلته ټول پاکستان په نارو وي او هلته بيا ټول هندوستان د بګوان بغارې وهي.

له لږ ځنډه وروسته يې زياته کړه:

ـ او هغه د استرليا وال، بې له دعاوو يې دا شل کاله ګټي.

حکيم مخ ور واړاوه:



ـ ستا اپلتې بيا شروع شوې؟

خرافې... تا ته مې ويلي و، چې د سرو زرو هګۍ به دې هم نه غوړوي!

زينب په سره سينه ور بيا کړه:

ـ ولې ابا؛ ځکه، چې بيا به زه تا بې ځوابه کړم؟

حکيم د ناستې ښځې خواته ورغی. ګوته يې زينب ته کړه:

ـ درته وايمه، چې د دې پليتې خوله بنده کړه. کنه بيا به مې له لاسه ګيله نه کوې!

زينب سر کوږ کړ:

ـ په وهلو نه؛ په خبرو مې قانع کړه، په منطقو او دلايلو مې قانع کړه.

ـ عقل دې ناقص دی. د هغه له حکمه بغير يوه پاڼه هم نه خوځېږي پوهېږې کنه؟

زينب ور برنده شوه:

ـ اوف ابا؛... ته ولې ځان نه پوهوې؟

ته فکر کړې، چې خدای پاک پورته ناست دی او دا فيصله کړي، چې ټنډولکر دې دومره سکور وکړي او افريدی دې دومره؟

حکيم لا هماغسې رډ-رډ کتل، زينب پسې زياته کړه:

ـ د دواړو ملکونو تر منځ لوبه څه کېږي، چې دواړو خواوو ته قيامت راځي.

نه هغو ته دا عقل ورځي، چې که بګوان ور ګټلای شوای؛ نو دومره يې بايلله ولې؟

او نه موږ په دې پوهېږو، چې که الله پاک غوښتلای، چې وې ګټو؛ نو اوولس-اوولس کاله به يې انتظار نه کېنولو.

حکيم پر خپله کپۍ خپره کړه. زينب په منډه تر وره پټه شوه. کپۍ د وره

پر پلې ولګېده. شېبه وروسته د وره شغ شو. حکیم لا هماغسې کتل زینب یې نیمه مخې لیده. هغې ورو وویل:

-ښايي زما او ستا په خدای(ج) کې فرق شته، ابا جانه!

څکه ته، چې څه غواړي په موږ کې یې پېچکاري کړې، موږ یې نشو درک کولای. په دعاوو کولو- کولو نور ستړي شوي یو.

نه مو لوبه وکټله او نه مو؛ د کور حالات سم شول او نه؛ خو ددې نجونو ودونه کېږي

ترس شو، زینب له هوا د حکیم کپۍ کپ کړه. ورو ور ټېټه شوه، دواړې کپۍ یې پر څمکه سمې کېښودې حکیم په تندي لا پنځوس لیکلي و، په غوسه یې دېوال ته کتل. ناستو نجونو او ښځې هم ردې نیولې وې زینب له خونې ووتله، نورې پسې کتار شوې

***

حکیم د لويې شیشي دروازې پله خلاصه کړه. له سلام وروسته د فتر په څوکۍ ناستې مېرمنې د ناستې بلنه ور کړه. هغې د یوې دوسیې پاڼه واړوله، ده پر دېوال سرېښو انځورونو ته وکتل.

په هر انځور کې به یو هلک او یوه نجلۍ د واده په جوړه کې ولاړه ول په ځینو کې یوا ځې نجونې تر سترګو کېدې ټولې سینګار شوې بیا یې د ناستې مېرمنې تر شا ولاړې الماری ته وکتل، له دوسیو ډکه وه. حکیم هره یوه تر واړه نظر تېره کړه، د هرې دوسیې پر شا څو توري او عددونه لیکل شوي و. ده له ځان سره ولوستل پر لومړۍ هغې لیکلي و:

۵۲ راجپوت هلکان

۳۷ پټهان نجونې



۵۳ د کونډې ښځې

۷۰ بهرني هلکان

۴۴ کونډ نارینه

۴۲ طلاقې شوې نجونې

... سر یې وخوځاوه، بیا یې د ښځې مخته د لیکلي دړې کرښې ولوستې لیکلي وو:(د ودونو تنظیمونکې: ډاکټره سمیرا بېګم)

ښځې په خپلو سرو وېښتانو کې ګوتې تېرې کړې، د حکیم شین وزمه ږېرې، تورې چپنې، تر ولیو رسېدلو څڼیو او مخ ته یې ښه په ځیر وکتل:

-زه مو؛ څه مرسته کولای شم؟

حکیم پوره درې دقیقې د خپلو لورانو په اړه وغږېد. ښځې به هم کله-کله سر ور سره خوځاوه. وروسته یې په خندا کې وویل:

-هسې؛ خو د دومره لورانو له پلار څخه باید د کمو شرطونو تمه وشي؛ خو پر بېړه یې، موږ په خپل منځ کې سره ناست یو، که کوم شرط لرئ؛ نو وواياست؟

حکیم په مېز ګوته وټکوله، په جدیت یې وویل:

-ګورئ! او له خبره؛ خو داده، چې لورانې رابانديې بوج ندي، چې موږ بې هر چاته ور کوو. له کوم لوېدلي او واړه خاندانه هم نه یو.

ښځې سترګې غټې کړې، ملا یې پر څوکۍ ولګوله حکیم په غرور سر کوږ کړ:

-په ډېلي کې به زموږ د کور پر دروازه فیلان درېدل یقیناً، چې زما ځینې شرایط دي. اول دا چې هلک باید د صمُ الصّلات پابند وي

دویم دا چې باید سید وي؛ خو له اهل سنتو څخه

ښځې په موسک انداز غاړه کږه کړه. شېبه وروسته، په دفتر کې سمېرا

بېګم یو اځې وه.

❊❊❊

زینب سابه پرېولـل پـه خوښـۍ د خونې خواتـه روانـه شـوه. د خونې دروازې ته په رسېدو یې سترګې رډې کړې:

ـ دا ته څه کوې؟

سیفو په اینه کې خپلو سرو کړیو شونډو ته وکتل. شین تکری یې پر سر سم کړ، موسک شو، په بند - بند غږ یې ور بیا کړه:

امم زززه اا سنګه اا ښکارېږ امم، خورې؟

زینب دوه قدمه ور مخته شوه، له ترس سره، سیفو پر کټ ولوېد. هغه په ژړا شو، زینب چیغه کړه:

ـ سپیه.. بې غیرته. ! څو وارې مې پوه کړی یې، چې ته یو نارینه یې او د نارینه غوندې ګرځه! ها؟

په دې وخت کې عایشه هم راغله:

ـ څه شوي دې، خورې؟

هغې سیفو له ځمکې را پورته کړ، زینب په غوسه ور بیا کړه:

ـ ته؛ خو لږ ورته وګوره!

ـ دا څه دی، سیفو؟

د هغې سترګې رډې شوې، زینب ته یې وکتل، سیفو پـه ماتـه ګوډه ژبه وویل:

ـ زما زززړه اا وغوښتل ل چې اا زه ووو ګوررم، ااا څنګه ښکارمه

زینب بیا ور برنده شوه:

ـ لا وایي هم؛ چې څنګه ښکارمه!



سیفو! نارینه داسې کوي؟ ها؟ ته کومه نجلۍ یې؟

هغه په ژړا کې ورته کړه:

ـ هو؛ اا نجلۍ ااا یم. که نجلۍ اا نه یم؛ نو ولې ماته مصطفی ورور، ښه ښکارېږي او اا ولې زما زړه هم ااا غواړي، چې له هغه اا سره مې واده وشي.

له دې خبرې سره عایشې درې څلور څپېړې ور خیر کړې:

ـ دا څه چټیات وایې. تا ته شرم نه درځي؟ ته ودرېږه، چې زه ابا ته ووایمه!

سیفو یې پښو ته ور ولوېد:

ـ نه اا خورې. خیر اا دی، مه ورته وایه! د خدای اا په خاطر! زه بیا داسې نه ااا کوم اا. وعده کوم.

زینب هغه د عایشې له پښو را پورته کړ:

ـ وعده مه کوه، قسم وخوره... قسم وخوره!

سیفو په ژړا کې ورته کړه:

ـ زه قسم اا خورمه..

د عایشې اوښکې روانې شوې، سیفو ځان د زینب اوږې ته ورواچاوه. ښه شېبه ووته، د دریو وارو سلګۍ اورېدل کېدې.

❊❊❊

زینب د مایکونو تر څنګ ایښی ګېلاس ورپورته کړ. له دوه غړپه اوبو وروسته یې اوږده سا وکښله، بیا یې کیسه پسې وغځوله:

ـ د سیفو له دې کار سره مونږ ډېر وډار ېدلو، چې څه به کېږي. ماخوستن مې مور له مصطفی سره خبره شریکه کړه. مور مې له پلاره وېرېدله؛ خو ما

ډاډ ورکړ، چې ابا؛ خو هسې هم د سیفو پوښتنه په میاشتو-میاشتو نه کوي مصطفی وویل، چې زه یوه رنګمال پېژنم هغه له ښاره وتلی ځای لرې او دا د موټرو رنګمالي کوي دا ګلان مُلان پرې باسي، زه به سیفو هغه ته ور ولم، ځکه سیفو په رسامۍ کې ښه دی.

په سهار یې موږ ټولې خوېندې کتار ولاړې وو، له بامه مو ور کتل سیفو مصطفی له ځان سره پر موټر سایکل سپور کړ.

***

سیفو پورته کړکۍ ته وکتل بیا په مصطفی پسې سپور شو. له کابو نیم ساعت وروسته د ښار له ګڼې ګوڼې ووتل سیفو د مصطفی پر اوږه سر کېښود، موسک غوندې شو. له ښاره په وتو، کابو لس دقیقې موټرسایکل د شنه فصل په منځ کې روان وو. د ګنیو فصل سرې هوا دواړو ته خوند ور کاوه. یو ځای ته ورسېدل سیفو شاوخوا وکتل، څو لارۍ، موټرونه هم ولاړ و. خینې کسان د یوې لویې ونې تر سیورې لاندې پر کټونو ناست ول د هوټل له ځایه تمونښ ولاړېدی. مصطفی موټر سایکل ودراوه. یو کس رامخته شو. سیفو یې د غوږ تر شا بند برس ته کتل، مصطفی سلام ورکړ، هغه هم خندنی شو:

–وعلیکم سلام ډاکټر صاحب! له ډېره وخته وروسته راښکاره شوې؟

مصطفی وخندل:

–هسې؛ خو نن نه د مظاهرو لپاره لوحې لیکلو ته راغلی یم او نه مو؛ مظاهرې جوړې کړې بس د یو بل کار لپاره درته راغلی یم دا هلک زما د کاکا زوی دی. تا ته یې په شاګردۍ درسپارم، رسامي یې ډېره ښه ده.

هغه کټ ته اشاره وکړه:



ته اول کېنه لږ دلته کېنه!

–هغه؛ خو سمه ده، ته اول کېنه لږ دلته کېنه!

بیا یې ښۍ خوا ته غاړه اوږده کړه:

–او بشیر خانه! دوه ګیلاسه چای؛ خو راوړه! هله ګرانه!

په عمر پاخه رنګمال، سیفو ته وکتل:

–ښه؛ نو نوم دې څه دی ځوانه؟

هغه په بنده ژبه ور بیا کړه:

–اسیییید سیف الله خاان

رنګمال له غوږ څخه برس راکش کړ، مخامخ ولاړ موټر ته یې ګوته ونیوله:

–خان صاب! ته لږ دا برس در واخله او په څوکه یې هغه موټر پر ځمکه وکاږه. ها دا واخله!

سیفو نوکی مخته ورغی. موټر یې تر نظر تېر کړ. څنګ ته پر کټ ناست پکولي سړي له خولې شنه لوخړه په هوا کړه، ورو یې شونډې وچیچلې. سیفو پر ځمکه کرښې وېستلې. یوه ځوان چای راوړ، رنګمال مصطفی ته وویل:

–ها دادی، چای هم راغی. هلک تر ازموینې مخته لا کامیاب دی له اندازه یې ښکاري، چې لایق دی.

لویې لارۍ ته ولاړو دوو ځوانانو خپل برسونه پر ځمکه کېښودل، بیا یې یو بل ته وکتل، په خندا شول بغلته ته د ولاړې بمبې شغا شوه، مصطفی ور وکتل، د سرو کالیو یوه نرۍ ډوله ښځه، چې سر یې کلک تړلی و، را پورته شوه او د رنګمال تر څنګ کېناسته دریم پاتې ګیلاس یې ورسره واخیست په نارینه ډډ غږ یې مننه وکړه. مصطفی رنګمال ته ورته کړه:

–استاذه! دا د شپې هم دلته وي؟

هغه په خنداکې ورېبیا کړه:

-هو؛ نرښځی ده. ددې له خاطره؛ خو دا ځای په رونق کې دی له زړه ډېره صافه ده.

-استاذه! ددې ځای د چاپیریال له کبله مې نه غوښتل، چې دا هلک دلته راولم؛ خو هغه له رسمونو بغیر کوم بل کار نشي کولای. مجبور شوم دلته مې راوست. ته یې باید ډېر خیال وساتې، دا ډېر معصوم هلک دی

له همدې سره یې سیفو ته وکتل:

-هغه دی جوړیې کړ!

رنګمال پر خاورو لیکل شوي رسم ته وکتل:

-خه زویه! هلته کېنه!

سیفو پر کټ کېناست، رنګمال وویل:

-ګوره ډاکټره! نوره رسامي به زه ور زده کړم. اوس هم زما تر دې نورو شاګردانو تکړه دی؛ خو ګوره د ورځې به سل روپۍ ورکوم.

-ډېره منند هغه اوس تا ته سپارل شوی دی.

پر کټ ناست پکولي کس، خپل پټو پر زنګنو سم کړ، له سګرېټه لوخړې ختې. سترګې په سیفو کې خښې وې. رنګمال مصطفی ته وویل:

-ته یې بېخي فکر مه کړه. ښه؛ نو دا هلته ماته راولېږه!

رنګمال د سړک پر هغې غاړې ولاړو موټرو ته ور روان شو، مصطفی سیفو ته ور غږ کړ:

-ښه ګوره! له زړه کار کوه او مابنام به دې زه بېولو ته راشم.

په موټر سایکل سپور شو، په لنډه وخت کې تر شنو ګڼیو پټ شو، سیفو پسې کتل. وروسته د سړک بلې غاړې ته د ولاړو موټرو پر لور ور روان شو. رنګمال هغه دوو نورو ځوانو رنګمالانو ته ور وپېژاند.



هغوی یوه بل ته وکتل، ژبې یې پر شونډو تېرې کړې دوی تر ماسپښینه پر رنګمالۍ لګیا و. وروسته دوې نر ښځیانې راغلې. له سیفو سره په ولاړو دوو ځوانانو کې، یوه هغوی ته په پنجابي ژبه وویل:

-بیا راوتلې یاست، چې تولنه ولړئ بس مزې مو دې مزې!

بیا یې ګوته سیفو ته ونیوله:

-دا هم ستاسې له کورنۍ دی، له ځانه سره یې بوځئ!

یوې یې په نارینه ډوله او عجیبه انداز وویل:

-پخیر راغلې جانو. ګورئ، چې په عذاب یې نه کړئ!

د سیفو لاس مچ کړ او روانې شوې په ولاړو ځوانانو کې یوې بل ته اشاره وکړه. یوه په قصدي ډول برس د سیفو له مخه ونښلاوه. هغه وو بېد. ژړبې مخ پاک کړ. هغه وویل:

-وبښه په خطایي راڅخه وشو یاره.

بل یې په زور د هغه مخته لاس ور وو. دوهم یې سیفو په غېږ کې ونیو. استاد یې د موټر له شا ور غږ کړ:

-زېړ رنګ راوړئ، هلکانو!

یوه یې د رنګ کټوری د موټر شا ته ور وو. له هغې خوا چې راغی، د سیفو تر پښو بیلر ته ودرېد. سیفو یو دم چیغه کړه، لاندې ولاړ هلک په کړس کړس وخندل. د پاخه عمر رنګمال له راتګ سره څو ښکنځلې پرې وار کړې دوی روان شول، سیفو لا هماسې ژړل دی په ګونډو ناست و، مشر رنګمال وویل:

-دا حرامیان زه ښه پېژنم هله زویه، پرتوګ دې پورته کړه. تر سړک دې غاړې ته پر کټ ناست پکولي کس، پر شونډو ژبه تېره تېروله ورځ تېره شوه. مازیګر و، چې مصطفی راغی او سیفو یې له ځان سره

بووت.

د مرغانو شور شېبه په شېبه ډېرېده.

***

سیفو پر کټ غځېدلی و. زینب اوبه ورکړې، مور یې وویل:

ـ ما نه ویل، چې داسې به کېږي؟

زینب په ډاډ ور بیا کړه:

ـ بلکل دې ویلي و.

خو دا ستونزې چې نن څومره وي، ورځ تر بلې به انشاالله کمېږي او یو ورځ به بېخي کمې شي. سم وایم کنه سیفو جانه!

سیفو د مور له زنګونه راکښېناست. پر جېب یې ګوتې ووهلې، سور سلګون یې زینب ته ونیو.

هغه خندنی شوه:

ـ ته ورته وګوره مورې! دا روپۍ، چې مور ټولې کړو او د میاشتې په پای کې یې ابا ته ورکړو؛ هغه به څومره خوشاله شي او سیفو له تا سره به ډېره مینه وکړي.

ټول موسک شول.

په سهار یې مصطفی بیا سیفو تر خپله ځایه ورساوو، دی بېرته روان شو. سیفو پر کټ ناستو کسانو ته ورغلی. دوه یې رنګمالان ول او یو پکولي موټروان. ده سلام ورکړ، پکولي سړي د چایو ست وکړ، ټولو په خېر ورته نیولې وې. سیفو د موټرو خواته روان شو، پکولي ارمانجن وویل:

ـ یاره نامې ټوټه خو ده...

نورو وخندل، د هغه له خولې یې شنه لوخړه پورته شوه.



***

حکیم په زینو کې راکښېناسته شو، په دوکان کې ولاړ سړي، پر اوږه اچولی څادر سم کړ. دواړو لاس سره ورکړ، راغلي کس په خندا وویل:

ـ اسلام علیکم حضور!

حکیم په خپله نالی کښېناست.

ـ راځه، کښېنه!

ـ وایه، اوس دې په کور کې څه حال دی؟

سړی شېبه ولاړ و، بیا یې په خوند وویل:

ـ د طبعت پوښتنه مکړه، بېخي ښه یم. زما مېرمنه خو؛ یو مخ ستا مریده شوې ده. دا شیریني هغې را لېږلې ده.

سور پاکټ یې د حکیم پر دخل کښېښود. حکیم د سترګو تر چولو ور وکتل، سړي په ګونډه شو:

ـ د یوې هفتې دوا نوره هم، را جوړه کړه.

حکیم په لاس کې نیولې تسبې کښېښودې او پورته شو. ناست سړي، یوې او بلې خواته وکتل، بیا یې شونډې وخوځېدې:

ـ ښکارې، چې ملازم دې نن په رخصتي تللی دی؟

حکیم د یوه بوتل سر خلاص کړ:

ـ هو؛ په اوږدې رخصتي تللی. د هغه تنخا برابرول نوره مشکله شوې وه، ځکه مې رخصت کړ.

ناست سړي، د حکیم تسبې واړولې، د هغه شناوې ږېرې او اوږدو څنو ته یې وکتل، بیا یې وویل:

ـ حکیم صاب! په حکیمتوب کې؛ خو دې شک نشته؛ نو بیا دې دا کار

ولې نه چلېږي؟

حکیم سر وخوځاوه:

ــ د جاهلانو دور ده، هر سړی په جاهلو ډاکترانو پسې سرېښ دی او حکیمان دلته د نس هم نشي برابرولای.

ناست سړي، په خوله څه څه وکړل، بیا یې گونډه بدله کړه:

ــ ظلم دی، ډېر لوی ظلم دی خو؛ که تاسو یې بده ونه بولي؛ نو زه ستا لپاره یو وړاندیز لرم.

ــ ارشاد...

ــ موږ ته چې کوم قاري صاحب راتلی، هغه سعودي ته تللی دی. ته راځه او کوچنیانو ته مو قران(ک) لوله زه به د شاوخوا کورونو ماشومان هم درته را ټول کړم. موږ هغه ته د هر یوه پر سر پنځه ـ پنځه سوه روپۍ ورکولې. ښې روپۍ درته جوړوي!

ــ هو ولې نه زه بې حتماً ورته ووایم؛ خو ستاسې په شاوخوا کې کوم بل مولوي ـ مولوي نشته؟

سړي په سره سینه وویل:

ــ دي خو ډېر؛ اما هغه چندان زموږ د کورونو خواته پر راتگ شرمېږي

ــ ولې؟

سړي نیولی غږ وکړ:

ــ اصل کې موږ په هېرا منډيي کې د ډلو او بلاوبترو کاروبار کوو.

د حکیم تندی تریو شو. ناست کس په شدل غږ ور زیاته کړه:

ــ حکیم صاب... ته هلکانو ته له قران سره ـ سره اوردو ژبه هم ور زده کوه!

حکیم چې مخ یې بلې خواته واړاوه، یو پاکټ ورته ونیو:



ــ دا د دوو هفتو دوا ده. امید دی، چې بیا به ضرورت پېښ نشي

حکیم پر بالښت تکیه وکړه، سړي سره سا وېسته په جېب یې لاس ننیوست له پېچلي بنډله یې سلگون پر دخل کېښود. بیا یې شونډې وخوځېدې:

ــ حکیم صاب... نوم؛ خو زما چوهدري سهاک دی او که دې بیا له چا پوښتنه کړله؛ نو هلته ما خلک د «سهاکه کنجر» په نوم پېژني.

څپلی یې په پښو سمې کړې او ووت. حکیم تر پناه کېدو پسې کتل. شېبه ووته حکیم دباندې را ووت. د دوازې تر څنگ ناست سوالگر ته یې وکتل:

ــ اې تاته وایم...

په دوو گونډو ناست کس، خپل خیرن کتوری پر ځمکه کېښود. حکیم سور پاکټ په لاس کې ورکړ. بیا یې وویل:

ــ دننه راشه!

سوالگر ورغی. حکیم پر دخل پراته نوټ ته لاس ور ټیټ کړ، بېرته یې نوک ونیو. سر یې وښوراوه او تندی یې تریو کړ:

ــ داهم درسره واخله!

هغه ژر پرې غوټه کړه او ووت.

حکیم پر خپل ځای کېناست. د تسبو وره ټکا خته

***

له عمره پاخه رنگمال د موټر سایکل انډل وواهه، ولاړ موټر ته یې وکتل، درې واړه ولاړو کسانو برسونه خوځول. په لوړ غږ یې وویل:

ــ هلکانو! تر یوه ساعت مخته رخصتي ونه کړئ.

ښه؛ نو سیف الله زویه سبا به سره ګورو. د خدای پامان!
موټر سایکل ته یې ریز ورکړ، په شېبه کې پنا شو. په ولاړو کسانو کې دوو یې شېبه پسې وکتل. یوه بل ته یې وکتل:
ـ دا ګوره! تر یوه ساعته مه ځئ.. هه
د رنګونو واړه سطلونه یې پر لرګینه دړه کېښودل، دواړو ښکته توپ کړ. شخي یې وپسته سیئو په خیر-ځیر برس واهه دواړه یې تر پښو ودرېدل، غاښونه یې سپینول یوه یې وویل:
ـ ځه؛ نو بس دی نامې... تاته وایم سیفو جانه! اوس ته هم لږ دمه جوړه کړه!
هغه تر غچکو ور وکتل، برس یې رېږدېده. یوه پر لینګې لاس ور تېر کړ، بېلر ولړزېد. دواړو په کړس - کړس وخندل او د سړک هغې غاړې تر غټې توت لاندې له دوو نورو کسانو سره کېناستل.
کابو نیم ساعت ووت سیفو تور خلته ور واخیسته، د هغه نورو ځوانانو پر خوا ورغی. تر توت لاندې خو کتونه پراته ول، سیفو په بنده ژبه وویل:
ـ رشیده وروره! زما ااا کالي دننه دي او هغه دراوزې ته کولپ ور لوېدلی دی؟
له رنګه تور ځوان، چې کالي یې په رنګ ککړ و، بېرته موټر ته ګوته ونیوله:
ـ په مازدا کې را ځېږي ورشه په هغه کې یې بدلې کړه. د موټر په باډۍ کې غواوي دي؛ خو څه درته نه وایي. ډاریږه مه سیفو جانه!
سیفو روان شو، یوه یې د غاړې د سمال پسې وخنده. دوو نورو خپلې شونډې زبېښلې. د دوی په منځ کې د ناست پکولي کس چاغ ججوري ښکته پورته شو:



ـ ډېره ټیټه او نامي تو ته ده یارانو!
یوه یې په ګرېوان ګوتې تېرې کړې، بیا یې پکول وال ته سر ورنږدې کړ:
ـ استاذ ګله! ګوره اول زه...
هغه ګوته وخنډله:
ـ خوله دې بنده کړه، هر ځای ستا دا عادت وي ها دا ګېلاس ونیسه!
سیفو مازدا ته وخوت. د ولاړو غواګانو رمباړې ختې. دی د موټر بېخ ته ورغی. کالي یې د باډۍ له دېوال را کش کړل
پکولي د چای والا تر څنګ اېښې ټیپ ته ګوتک ور تاو کړ. سندره تر ډېره ځایه په زوره اورېدل کېده. بیا تر سړک واوښت. درې ولاړ موټرونه، چې مخونه یې د سړک خوا ته ول، د منځ هغه ته ورغی. څادر یې په ځان تاو کړ. یواځې دوې سترګې یې رڼې ښکارېدې، سیفو کمیس بدلاوه. د ناستو ځوانانو له ډلې یې یوه بل ته اشاره وکړه، هغه هم منډه کړه او د منځ په موټر کې کېناست. کیلي یې تاوه کړه، پکولي د موټر باډۍ ته ورپورته شو. ترپال یې را واچاوو، په موټر کې ناست توره کې ځوان ریز ته پښه نیولې وه. کابو لس دقیقې ووتې، پکولي کس د موټر له باډۍ را ټوپ کړل، تورکی ځوان له شترینګه را ښکته شو. پکولي ورته په ګوته د ختلو اشاره وکړه. پکول یې په لاس کې ونیو، په منډه تر سړک واوښت. دی لا په کټ نه وو کېناستلی، چې موټرسایکل ودرېد. ځوان سلام وکړ، ناستو کسانو علیک ووایه یوه یې له ځان سره وویل:
ـ دا زوی مړی؛ خو هم راغی.
ـ سیف الله له کاره خلاص شو؟
ناست ځوان چې رنګ کالي یې په تن و، خوله کړه کړه:
ـ تا هغه له ځان سره نه دی بیولی؟

موړ؛ خو همداسې فکر وکړ.

تازه راغلي کس، چې ساه یې لا پر سمه پر ځای نه وه، خپل پکول سم کړ، خلاصه جاغه یې وتړله، ورو یې وویل:

ـ هغه خو له دې ځایه نیم سات له مخه ووت. زما خیال دی، په بس کې به تللی وي.

مصطفی پوزه وموښله:

ـ نه؛ نو په بس کې څنګه تلای شي، تاسې مطمئین یاست، چې دلته نشته؟

یوه یې په غاړه کې ووړ سور دسمال تاو کړ:

ـ موړ؛ خو په خدای که له دې ځایه ښوربدلي لا یو !

هغه شاوخوا وکتل:

ـ ښه؛ نو دلته هغه سپین ږیری څه شو ؟

ـ هغه؛ خو له ماسپښینه وروسته بېخي راغلی نه دی، ور یې کلپ پاتې دی.

مصطفی بیا سترګې وغړولې. ناستو دواړو کسانو یو بل ته د سترګو تر کونجو کتل. مصطفی د موټر سایکل له اندل سره مخ پر لویه لار روان شو.

په راډیو کې سندره په ختمېدو وه، په ونه کې د مرغانو شور پیوسته اورېدل کېدی.

***

حکیم د دېوال ساعت ته وکتل، څه کم نهه بجې وې. خو څله د کوټې تر یوه بله سره ولاړ. مفلر (ګله بند) یې له غاړې لېرې کړ، په ناستو نجونو کې یې زینب ته ګوته ونیوله:



ـ په دې کور کې، چې هر څه کېږي او را پېښېږي؛ ټول ستا پلیتۍ له خاطره دي کاشکي، چې ستا ذلیل خاوند ته د پرېښودلو پر ځای زندی کړې وای !

ناستې نجونې په منډه له کوټې ووتې. په عمر پخې ښځې حکیم ته ږدې نیولې وې. هغه مخامخ کړکۍ ته کتل. بیا یې قره قولي له سره لېرې کړه:

ـ چېرې - چېرې مو ونه لټاوه. خدای دې وکړي...، چې مړ شوی وي یا یوې بلا وهلی وي.

ناسته ښځه جګه ودرېده؛ خو څه یې ونه ویل. شېبه ولاړه وه، بیا یې وویل:

ـ زه ډوډۍ راوړمه !

له دباندې په کله کله د ریکشې تېرېدلو او موټرونو غږ هم اورېدل شو.

***

د سپوږمۍ په رڼا کې هر څه تت ښکارېدل. د ځیځرو ووړ او پیوست غږ وو. نر ښځې څو بمبې ووهلې، د اوبو شرررر شو. وروسته یې بدنی ور پورته کړه او تر سرک ور واوښته. په شنو غنمو کې څو قدمه مخې ته ولاړه، څراغ یې کېښود، کېناسته. لږ جګه ودرېده. له غوږ یې څک کړ، کوم غږ یې وانه ورېد. څراغ یې شاوخوا وګرځاوه، رڼا کمه وه، څه نه ښکارېدل. لږ مخته ورغله په خوله یې لاس ونیو:

ـ وی خدایه توبه !

سیفي پر مخې پروت و. لاسونه یې شاته تړلي و، خوله یې له خرخورو ډکه وه، ده زورونه وهل. نر ښځې را پورته کړ، په غاړه کړي ټکری یې د هغه پر شا ور واچاوه.

لېرې ګنې رڼاګانې ښکارېدې سیفو سلګۍ وهلې.

***

وخت ووت. حکیم تلاوت کاوه، د رکشې غورا شوه. زینب او نور وله بامه کوڅې ته په بېړه ور وکتل. حکیم له هم له دوکان څخه د دروازې چولې ته ودرېد. زینب غږ کړ:

ـ مورې! او مورې! سیفي راغی!

له رکشې سره ولاړې نرښځۍ، سیفي په دواړو بارخوګانو ښکل کړ:

ـ ښه؛ نو زما جانانه سهار چې بیا راشې، کنه زه به درپسې پرېشانه شم ښه اوس ځه، د الله پامان.

حکیم بېرته پر خپل ځای کېناست، ریکشه روانه شوه. دی سو که دروازې ته ودرېد. سیفو د دروازې ځنځیر څو ځله وشرنګاوو، زینب او مور یې په زینو کې ولاړې وې ور تر ډېره ټکېده، وروسته زینب ور منډه کړه. ور یې پرانیست، هغه یې تر مټ ونیو. حکیم تر غلچکو ور وکتل. د سیفو پر لوڅه لېړه اوړه د نو کارو سره خطونه ښکارېدل. حکیم بېرته ځمکې ته وکتل.

په عمر پخې ښځې هغه په غېږ کې ونیو او پورته سره وختل. لږ وخت تېر شو، سیفو خپله کیسه وکړه، مور یې په ژړا کې ور زیاته کړه:

ـ هلته؛ خو به نور خلک هم و، ولې دې چیغې نه کړې زما زویکه؟

ژړغونې شو:

ـ ااا هغو مې اا په خوله چیره را اااا چیغلې وه.

مور، زوی او لورانو ښه تر ډېره وژړل، سیفو په ژړا کې زیاته کړه:

ـ ما چې څومره هم کوشش اا وکړ بیا هم...



شپه یې همداسې وژل:

ـ ماته هغې نر ښځې وویل، چې ته هیڅ وخت نارینه کېدای نشې، ته به لکه مور داسې په ودونو کې رخځېږې...

زینب یې پښه ونیوله، په ژړا کې یې وویل:

ـ نه سیفو جانه! نه! له دې وروسته زه تاهلته نه لېږم. ما سهوه وکړه زه پاتې راغلم!

دوی هماغسې ژړل. حکیم د وره له شا غوږ لېږې کړ، بېرته ښکته روان شو. په دوکان کې یې له الماري یو زوړ کتاب راکښته کړ. په طلايي رنګ لیکلي وو «د غالب دېوان».

حکیم کتاب سم پر نیمی پرانیست، سترګې یې پټې کړې پر پاڼه یې ګوته وګرځوله، پر یوه کرښه یې ودرېد. سترګې یې خلاصې کړې، له ځان سره وبونګېد:

(چې ته یې؛ نو زه ولې نه یم -- که زه نه وای، بیا به څه وای)

کتاب یې بند کړ، چورت یووړ.

کابو دوه ساعته ووتل. حکیم له ځایه پاڅېد، څه یې تر څادره لاندې پټ کړل، په زېنو کې وخوت.

د رنګه شیشو پله یې پرانېستله د سیفو خرهاري خوت، ده په رڼه وړ کتل. بېرته یې د دروازې ور پورې کړ. د رنګه شیشو سرې او شنې رڼاګانو یې د مخ ګونه بدلوله زلفې یې پورته کش کړه، بیا یې د سیفو څېرې ته په خیر وکتل. په ذهن کې یې د هغه نڅېدل او له نرښځیانو سره ګرځېدا تېره شوه. بیا یې په ذهن کې تېر شول، چې سیفو یوه موټروان ته سترګه وهي...، غابنونه یې وچیچل. په لاس کې پېچلې سپینه خلته یې خلاصه کړه. ور نږدې شو، یو دم یې د سیفو سر پر خلته ننیوست. هغه چغې او نارې وهلې؛

خو له خلتي بې غږ تپ راته شپېه وروسته يې خلطه په خوله ننيوته او را وته، حکيم دواړه لاسونه د هغه تر ستونې کېنېلي ول دوی لا هماغسې زوروونه وهل. سيفو بغلته د واړه مېز څوکه ونيوله، له دوهم ځل مېز خوځېدو سره د اوبو جګ په ځمکه ولګېد. زينب چې په لاندې پوړ کې وينبه پرته وه؛ پورته وکتل پنکه خوځېده. ژر يې منډه کړه، دروازه يې وټکوله حکيم لا هماغسې زورونه وهل، ژبه يې تر غاښونو لاندې وه. شاته يې وکتل، تر رنګه شيشو ور هاخو سيوری خوځېده.

د زينب له درېيم ځل آينې ټکولو سره، شنه شيشه پر ځمکه ولږېده. د زينب سترګې ردې راوختې:

– سيفي... ! ابا دا څه کوې؟ هغه پر پړده... سيفي... ! ! !

حکيم په خپلو لاسونو نور هم زور راووست، د سيفو خوله خلاصه پاتې شوه. حکيم اوږده سا واخېسته، زينب د وره تر شا هېښه ودرېده. موريې ګوښې – ګوښې راغله:

– زينو لورې ! څه شوي؟ زينبې !

شغ شو. حکيم دروازه خلاصه کړه، ښځې لويه ناره وکړه. په منډه يې د سيفو له سره خلته لېرې کړه، حکيم په غوسه ګوته وخنډله:

– بندې کړه دا ډارامه دې...

ښځې چيغې وهلې، نورې نجونې هم راغلې:

– دا ولې، وی الله زوی مې... الله.. ته ورته وګوره، زما زوی يې را مړ کړ...

په عمر پخې ښځې او نجونو تر ډېره چيغې وهلې، سيفو وازه خوله پروت و. زينب وروو ور وکتل، حکيم د کټ پر ژۍ کېناست، خوله يې وخوځوله:

– داسې کول ضروري و. اوس؛ نو که دی ژوندی وای، مور به هره ورځ



مره کېدلو !

زينب په ژړغونې غږ ور بيا کړه:

– زه اوس هم نه يمه پوهه شوې پلاره ! چې خدای(ج) هم خالق بولې او د هغه له تخليق څخه دومره کرکه هم کوې؟

حکيم تندی تريو کړ:

– خوګ؛ خو هم د خدای تخليق دی. اوس ووايه، چې زه له هغه سره هم مينه وکړم؟

او دا بدبخت؛ خو تر هغه هم بتر و. په خوګ کې؛ خو تر ده دا ښه والی شته، چې په خوګانو کې پيدا کېږي، له شرمه؛ خو يې کورنۍ هر ساعت نه مري

زينب ژړ ور بيا کړه:

– نو ابا دا هم د سرکوزي ګناه ده، چې د هغه کورنۍ سرکوزې نه وه؟ او که همدا خوګ يو نسل مخته پيدا شوی وای، بيا؟

– پليتې...

زينب يې لاس ونيو:

– بس پلاره ! له دې ځايه ولاړ شه مخته تر دې، چې زه نوره هم په بدو واوړم!

حکيم زينب ټېل وهله او په زينو کې کښته روان شو، ټولو ښه وژړل مور يې د سيفو سر په خپله غېږ کې نيولی و، سترګې يې په دېوال کې ښخې وې

***

دې ښه وژړل بيا يې اوښکې پاکې کړې لاندې ولاړو ژورنالستانو وچې

نیولې وې. د زینب پر ځنګ ولاړ پولیس یې مخ ته نېغ کتل. دې سترګې ومونښلې. یوې پولیسې د اوبو ګېلاس ورکړ.

په لاندې ولاړ کسانو کې، یوه نجلۍ خپل کمره مېین ته ور په غوږ شوه.

ـ زه یو تلیفون کومه سمه ده.

دباندې ووتله، له پولیسه یې خپل تلیفون واخیست.

زینب بیرته خپله کیسه راونه کړه.

***

په عمر پخې ښځې د خپل زوی په سر کې ګوتې تېرولې. په کوچ کې غځېدلې کس وویل:

ـ زړه خو مې غواړي، چې حوزې ته عریضه وکړم؛ خو د دې بدبخت د لورانو له خاطره مې ځان کنترول کړی دی.

ښځې یې سر وخوځاوه:

ـ ته ښه کړې د مصطفی پلاره!

مصطفی چې د مور پر زنګانه پروت و، مړاوي وویل:

ـ نیوهېږم مورې! زه خو وایم، په دوی ټولو به ډېر احسان وي، که حکیم کاکا زندان ته ولاړ شي.

ـ ځنګه خبرې کوې زویه! هغه د هغوی پلار دی، که هر رنګه دی هغه شونډې کړې کړې:

ـ هه؛ پلار داسې وي...

***

د کوټې پر سر ک اوږد فرش خپور و، د ټولو ناستو کسانو خولې خوځېدلې. د دوی هر یوه مخې ته وړې ـ وړې ډېرې پرتې وې، له ځو ـ ځو



شېبې وروسته به یې پرې چُف وکړ.

د غرمې خوا شوه، چې تر ځنګ یې یو موټر ودرېد. دوه تنه را کښته شول، یوه یې د ښتې کمربند کلک کړ، نه تېنګېده. په لاس کې یې ډنډه واروله، بیا یې موټر ته اشاره وکړه. له موټره یوه نر ښځې هم را کښته شوه، پولیس د حکیم تر ځنګ کېناست، سو که یې وویل:

ـ حکیم صاحب! ډېر خفه شوم، چې خبر شوم که څه هم، چې مصروفیتونو خورا ډېر دي؛ خو حکیم صاحب دا چې ته زما په سیمه کې اوسې؛ نو زما مسولیت و، چې دلته راغلی وای.

حکیم سر وخوځاوه:

ـ ډېره ـ ډېره مننه قومندان صاحب، چې زحمت مو ویوست.

هغه پیک داره خولۍ لرې کړه، خوله یې غوږ ته ور نږدې کړه:

ـ او تاته مې یوه څه وویل، که لږ له خلکو خلاص شوې؛ نو د پنځو دقیقو لپاره تر حوزې راشه ضروري خبره درته کوم!

حکیم رډ ـ رډ ور وکتل، ده زیاته کړه:

ـ د پرېشانه کېدو هیڅ خبره نشته، باور وکړه.

حکیم د هو په بڼه سر وخوځاوه، نورو خلکو دوی ته کتل. پولیس او نر ښځې په موټر کې کېناستل.

شېبه وروسته د ورو ډېرو ټکا ختله

***

د زینب خبرې تتې اورېدل کېدې دباندې راوتلې ژورنالېستې د مقابل لورې خبرو ته په ځیر غوږ وه. بیا یې د ولاړ موټر پر سر اېښې تبخې ته وکتل، په نرمه لهجه یې وویل:

— دا د يوې زندګۍ خبره ده شېرازي صاحب! زه پوره باوري يم، چې دا نجلۍ بې ګناه ده. تاسو لطفاً ولسمشر راکښنوئ او دا اعدام وځنډوئ
مقابل لوري په وررو ور بيا کړه:
— ګوره! ته خو يوه ژوره ناپسته يې. دا څنګه خبره کوئ، هغه د دې هېواد ولسمشر دی. زه په دې وخت کې، هغه څنګه را کښنولای شم خير دی، تاسو زما مقام او رتبه هم لږ درک کړئ زه يوا ځې د هغه سکرتر يم!
— شېرازي صاحب زه پوهېږم، چې تاسو يو ښه انسان ياست او کومه لاره به حتماً ورته پيدا کړئ ښه زه به وروسته درته زنګ ووهم.
ټليفون يې بند کړ او بېرته پر مخامخ دروازه ننوتله زينب خبرې کولې، ډوګر څمکې ته کتل.

***

حکيم لاسونه مروړل، چورت اخېستی و. شېبه وروسته ور خلاص شو، جګ ودرېد. قومندان خپله ډنډه پر مېز کېښودله:
— کېنه! کېنه!
حکيم بېرته پر ځای کېناست، قومندان خپله توره خولۍ ليرې کړه. حکيم مېز ته کتل، قومندان پر بريتونو لاس تېر کړ، حکيم ته خير شو. د هغه رونه ککرۍ او په شناوه ږېره کې مخ وروکی ښکارېده. ورو يې وويل:
— حکيم صاحب! ته ډېر نېک او پرهېزګاره انسان يې. زه نه غواړم، چې له تاسره د پوليسو چال او طريقې وازمويم
د خپل مېز دخل يې پرانېست، غټ کتاب يې د حکيم مخې ته کېښود:
— زه باوري يم، چې تاسو به د خدای(ج) د کتاب پر وړاندې دروغ نه وایاست. زوی دې څنګه ومړ؟



حکيم اړخ ته وکتل، سر يې وخوځاوه:
— تاسو دا پاک کتاب زما له مخې ليرې کړئ، ستاسې شک سم دی.
هغه کتاب دخل ته کړ، بيا يې وپوښتل:
— تا غوندې يو شريفه انسان، څنګه داسې وکړل؟
د حکيم غږ ژړغوني شو:
— د غيرت په نامه قتل به تاسو ته، څه نابلده خبره نه وي.
هغه خنده رويه وويل:
— په غيرت کې؛ خو نجونې قتل کېږي؟
حکيم په ناهيلۍ ور زياته کړه:
— کاش، چې هغه نجلۍ وای!
له دې سره هغه سر وخوځاوه:
— امم، اوس؛ نو سلسله داده، چې پر جرم او اعتراف مو بايد دوسيه جوړه شي.
تندی يې پراخ کړ، سګريټ يې ولګاوه:
— څنګه؟ څه پکې وايي؟
حکيم نور هم ژړغوني شو. لاسونه يې جوړه کړل:
— مرسته راسره وکړئ زما؛ خو کور له لورانو ډک دی، د هغو به څه کېږي؟
قومندان په غوسه ور بيا کړه:
— دا بايد تا مخته لا چورت وهلی وای. ته نېو هېږې، چې زمانه کومې خواته روانه ده؟
حکيم لاسونه پورته ونيول:
— د پروردګار په خاطر! دا خبره همدلته خښه کړئ.

قومندان په سر وخوځاوه:

ـ خبره که یواځې، تر ما وای؛ نو په خدای قسم، چې همداسې مې کړل
لیکن اوس ټولې حوزې او لوېې قومندانۍ ته خبر ور رسېدلی دی
بل هغه نرښځې او سور ګل؛ چا چې عریضه کړې، دباندې ناست دی ز
د دومره ډېرو خولې، څنګه بندولای شم؟

حکیم زارۍ شروع کړې:

ـ اوس؛ نو ستاسو په مخ کې به د چا دومره جرئت وي؟

له همدې سره، قومندان پر مېز څنګلې ولګولې. بیا یې په زوټه وویل:

ـ نه یاره! ددې خلکو خولې په نوټونو بندېږي. که څه هم دی؛ خو د
رشوت اما زما لپاره په خدای(ج) چې یوه روپۍ هم حرامه ده. اوس ته پخپله
فیصله وکړه.

حکیم سونګېده:

ـ خدای شاهد دی، چې مړ؛ خو د تکفین چاره لا په قرض وکړه.

قومندان ټنده تروه کړه:

ـ دا ګوره! ډېره د افسوس خبره ده، زه ستا لپاره خپله دنده په خطر کې
اچوم او ته..

قومندان په زوره ناره کړه:

ای دین محمده!

حکیم په ژړا کې ور بیا کړه:

ـ د خدای لپاره، د خدای لپاره! ناراضه کېږه مه! زما خبره؛ خو واوره!

قومندان ولاړ پولیس ته لاس پورته کړ:

ـ یوه دقیقه ودرېږه!

هغه ووت، په غوسه یې وویل:



ـ له عقله دې کار واخله حکیمه!
پیسې به بیا هم پیدا کړې؛ خو ځان نشې پیدا کولای. له دوستانو
موستانو یې واخله، یو څوک خو به وي؟ ځان دې بچ کړه!

ـ څومره پیسې لګېږي؟

ـ که دا د خانانو خبره وای؛ نو په پنځه وېشت لکه هم خبره نه خلاصېده؛
خو ته غریب سړی یې، درې لکه برابرې کړه. لیکن.. هغه هم تر نن
مازدیګره، تر سبا پورې زه دوسیه نشم معطل کولای!

حکیم په ژړا کې وویل:

ـ خو درې لکه..

قومندان خبره ور پرې کړه:

ـ اوهو یاره... ته هم. اخیري خبره ۲ لکه، بس. او خپل ځان دې نظربند
وګڼه، زما یو کس به هر چېرته درسره وي.

له همدې سره یې ګوتې ګورت کړې:

څه؛ نو سم دستې یې برابرې کړه!

حکیم سترګې پاکې کړې، کیازه غاړه ووت. قومندان اوږده لوخړه پوو
کړه.

***

ماخوستن ناوخته و، په عمر پخه ښځه او لورانې یې هېښنده ناستې
وې، حکیم په زینو کې را پورته شو. پرکټ کېناست، خولۍ یې کېښودله د
کورتۍ په ټنیو لګیا شو، ښځې، عایشې ته مخ کړ:

ـ ولاړه شه او به راوړه!

بیا یې حکیم ته وکتل:

ـ راغلې، څنګه شو؟
سړه سا یې واخیسته.
ـ له هر چا، چې یې غواړې، هغه خپلې مجبورۍ در اوروي.
حکیم اوبه‌ور واخیستې، زینب ته یې ګوته نیغه کړه:
ـ کاش، چې د هغه پر ځای مو؛ دا پلیته وژلې وای.
زینب چې کونج ته ناسته وه او د پلار لخوا یې پلو پر مخ را کش و، په
نیولې غږ وربیا کړه:
ـ موږ! ابا ته ووایه، چې د مسجد له چندې یې ورکړې. هسې هم د د
په خبره، چې د سیفي په وژلو یې د خدای(ج) تېروتنه سمه کړې د
خدای(ج) خو به له ده، ډېر خوشاله وي، چې له موقع یې ګټه واخیسته.
کرس شو. ناستو نجونو پر مخونو لاس ونیو. اوبه پر د پوال رواني
شوې، ګیلاس په زینو کې ورغږېد. حکیم ناره کړه:
ـ دا پلیته به موږ تر دوزخه ورسوي.
اسما لوریې ورو شونډې وخوځېدې:
ـ ابا؛ خو زینب خور سم وایي، کله مو چې پیدا کړې بېرته به یې په چنده
کې کېږدئ، چا ته څه معلومېږي؟
حکیم ګوته جګه کړه:
ـ دا د هغه ذات امانت دي، له هغه څه هم پټېدلای شي؟
په عمر پخې ښځې خپلې اوښکې پاکې کړې:
ـ له هغه خو ستا مجبوري هم نه دي پټې. دا فکر وکړه، چې زه تنها، دا
ټولې نجونې څنګه وساتم؟
حکیم په خواره خوله ورډېره کړه:
ـ اوس دا دومره ډېرې روپۍ ورته له کومه پیدا کړو؟



زینب وویل:
ـ که نور څه ونه شول، بیا به دا کور خرڅ کړو.
ښځې ژر پر خوله لاس ونیو. د حکیم پر اوږه یې لاس کېښود:
ـ دا فکر دې ولې مخته ونه کړ؟
اوس؛ نو څه پکې مه وایه. بسم الله وکړه، د هغه د رسول په خاطر!
حکیم خپل سر د هو په بڼه وخوځاوو او ولاړ شو.

***

قومندان ساعت ته وکتل، د ماخوستن لس بجې وې. بیا یې شین رنګه
ټوټه پرانېستله، دوه نیمې بستې یې ترې ور پورته کړې. ټنډه یې تروه کړه:
ـ دوه... پوره دي کنه؟
حکیم د هو په بهانه سر وخوځاوه، قومندان موسک شو:
ـ تا ته خو معلومه ده، چې له دې روپیو ما ته یوه لا هم حرامه ده. البته که
ستا اجازه وي او دا پاکه ټوټه به زه د تبرک لپاره وساتم.
حکیم غلی ناست و، قومندان په خوږه خوله وویل:
ـ ته اوس ولاړ شه او په ارامه خوب وکړه. د نوي ژوند لومړۍ شپه دې
بیا مبارک شه.
حکیم ووت، قومندان په خندا کې شنه ټوټه پر بنډلو را وپېچله.

***

زینب ژړغونې شوه، بیا یې وویل:
ـ د چندې قرض پر ابا داسې بوج اچولی و، چې خپل ټول تاکلي حدونه
یې مات کړل او په بازار کې به یې د یوناني درملو په پلورلو پسې ناړې
وهلې. د هر کار لپاره یو هنر پکار وي؛ خو له ابا سره د یوناني درمل

خرڅولو هنر هم نه وو.

ټولې لارې بندې وې، په ټول کور باندې مايوسي خوره وه. يوه ورځ غرمه مور ټول پر دسترخوان ناست وو، چې ابا ته يو څه ور په ياد شول يو دم ودرېد. څه يې ونه ويل او له کوره ووت.

***

حکيم د لاهور په له شوره ډکو کوڅو کې، له خو تنو پوښتنې وکړې، هغوی به هم د لاس اشاره وکړه، اخېر يوې کوڅې ته ورسېد. په ټوله کوڅه کې ډولونه او د موسيقۍ نور سامان الات را ځوړند و. حکيم يوه خوان ته ودرېد، هغه ډول ته چيټکان کښلي ول.

اداب... دا د سهاک چودري کور ته تلم، چېرې دی؟

هغه مخامخ کوڅې ته لاس ونيو. دی په دربيو نورو تنګو کوڅو کې تېر شو. د سندرو غږ له هر دويم دوکان سره ببل ببل اورېدل کېدی.

تر حکيم مخته ځوان يوه کورته ننوت، له يوې تورې ښځې سره يې خبرې وکړې، حکيم ولاړ و. په دوهم پوړ کې ولاړې ښځې له ګرېز سره لاندې کټ ته ګوته ونيوله ځوان ور وکتل، پر کټ پروت سړی يې وخوځاوه. ده په پنجابي ژبه څه وويل، پر اته کس مخ را لوخ کړ:

ــ اوهو؛ حکيم صاحب ته راځه، راځه، دلته کېنه!

حکيم کېناست؛ خو کټ ځای نه ورکاوه، هرې خوا ته يې خير - خير کتل له رنګه غنمرنګه او پنډ سړي ولاړ ځوان ته د شړومبو وويل. حکيم ورو وبونګېد:

ــ نه خير دی، زحمت مه باسئ.

هغه په خندا کړه:



ــ په زحمت به يې ته په څښلو شې. هاها... ښه؛ نو وايه، چې څنګه نن زموږ قسمت را بيداره شوی دی؟

حکيم په ګوډه ژبه کړه:

ــ هغه... تا هلکانو ته د درس ويلي وو.

چوهدري سر کوږ کړ:

ــ هو. ويلي مې و؛ خو وروسته را معلومه شوه چې ته؛ خو له اهل سنتو ځه يې. بيا مې شکر وکړ، چې ښه ده تا پخپله انکار...

حکيم خبره ترې واخېسته:

ــ نو ته خو هم يوازې قران غواړې ور زده کړې او قران؛ خو لا تر اوسه د شعيه او سنيانو يو دی.

ــ هو خبره؛ خو دې سمه ده. بيا هم ځينې وخت د سړي له خولې يو څه را وزي.

حکيم سر وخوځاوه:

ــ مجبور يم او وعده درسره کوم، چې زه به په خپله خوله کابو ولرم په مولا علي قسم!

چوهدري په خندا شو:

ــ سبحان الله! سبحان الله! هسې؛ خو هغه ته مشکل کوشا نه وايي څنګه مو ستونزه حل شوه، ستا هم زما هم... هاها

تورکي هلک دوه ګېلاسه راوړل، چوهدري وويل:

ــ ها دا واخله شړومبې. فکر وکړه، چې کار دې وشو.

حکيم سر ور نږدې کړ:

ــ د درس لپاره به کوم وخت مناسب وي؟

ــ وروسته له ماسپښينه يا تر ماښام مخته...

حکيم تندي ته ګونځې ورکړې:

ـ ولې سهار؟

چوهدري کټ - کټ وخندل:

ـ ته هم څومره ساده پاچا يې. تو له شپه وبښ يو، سهار چې ويده شو، بيا په دوو يا درو بجو راکښو. ته پنځه بجې راځه او په اوو بجو ځه

حکيم تندي را ټول کړ:

ـ سمه ده وخت يې ستا په خوښه؛ خو تنخا که پيشکي راکړې؛ نو...

چوهدري ګېلاس په غاړه واړاوه. بيا يې له جېبه د پيسو بنچه را وېسته

ـ زه نن بانګ ته نه يم تللی. کنه غټ لوټونه به مې درکړي و. څنګه چې مې د شپې په جيب کې اچولي همداسې مې ايښې دي

له بستې يې رنګارنګ لوټونه ور جلا کړل حکيم تر غلچکو ورکتل، بيا يې لاس ور اوږد کړ.

له پورتني کوټې نرمه سندره اورېدل کېده.

(او ميرې زهره جبي- تهجې معلوم نهې...)

***

په عمر پخې ښځې په واړه تشت کې صابون واچوه. پر غولې پراته نوټونه يې يو يو پکې ډوب ول وروسته به يې هر لوټ ښه وموښل:

ـ اوس به کورته داسې چټله ګټه راځي؟

حکيم پر بل لوټ او تو تېر کړ:

ـ هغه د رزق ورکولو وعده کړې دا يې نه دې ويلي، چې څنګه له کومه او څه وخت به يې ورکوي. کېدای شي، چې هغه زموږ روزي همداسې ليکلې وي.



ناستې ښځې شاو خوا وکتل، بيا يې وويل:

ـ دا ټولو مشکلاتو لکه، چې زموږ کور ليدلی دی؟

حکيم په پنځوس ګون او تو تېر کړ، مخ يې ښځې ته ور واړاوه:

ـ خدای(ج) هم خپلو بندګانو ته د هغوی د حوصلو او توان پر برابر مشکلات ورکوي دا د ازموېښت وخت دی، تېر به شي.

له دې وروسته به حکيم هره ورځ مازديګر هيرا منډيې ته تلی او ماشومانو ته به يې درس لوست اوس؛ نو د ماشومان شمېر تر لسوو رسېدی حکيم يوه ورځ له چودري سر پر چايو ناست و، ويې پوښتل:

ـ دا پورته خونه له نور ځای څخه بېخي بدله ده، ډېره پاکيزه او ښکلې ښکاري!

د چوهدري چې ګرېوان تر نيمايي خلاص وه، له قيلون څخه يې خوله پورته کړه په کړس کړس يې وخندل:

ـ دا زما د مينا خونه ده، هغه هم ډېر پاکيزه مال ده.

دواړوو وخندل حکيم بېرته پورته وکتل، د نقاشۍ ډېوالونو او زېږ رنګې تيکې ليدو يې پر مخ موسکا خوروله شپه يې همداسې کتل، چودري بيا په خندا کې وويل:

ـ مينا ډېره ښکلې ده. هغه زموږ غټ ګيراکان خوشاله ساتي. هره شپه ناڅي او خوږې خوږې سندرې وايي، اوس ويده ده.

له دې خبرې سره د حکيم تنده تروه شوه.

***

حکيم خپل خان په څلور واړه خواوو کې ليد. د بياتي وره- وره ټکا خته حکيم د ايني پر سر ليکلې جمله چې چپه ښکاره ولوستله:

ـ «شاه رخ سلماني...»

په تمسخر يې ځمکې ته وکتل. ښي اړخ ته د ناست کس اوږې، چې پره
ځوان چاپي کولې، وويل:

ـ ګوره حکيم صاحب! موږ ټول د يوه رسول(ص) منونکي يو. داړ
شيعه او سني؛ خو فرعي خبرې دي. دا پرېږده!

حکيم په غوسه ور وکتل. سرې زياته کړه:

ـ موږ غواړو، چې ته د معلم صاحب زوی ته خپله لور ورکړې او سره
دوستان شئ!

معلم چې په بله څوکۍ کې يې اخبار لوست، د سترګو تر کونجو ور
وکتل. حکيم په زوته وويل:

ـ ګوره ظفره وروره! ستا احترام په خپل ځای؛ خو لور به مې مړه کړم،
مخته تر دې، چې داسې وشي.

سرې ور زياته کړه:

ـ ګوره! د دې خپلوۍ لپاره؛ خو قدرت هم اشارې درکوي او څومره
ښايسته اتفاق دی، چې دده د زوی نوم مصطفی دی او ستا د لور نوم عايشه
دی. سبحان الله! څومره ښايسته سنت پر ځای کېږي.

حکيم په حيرانۍ ور وکتل:

ـ ښه؛ نو زما د نورو دريو لورانو نومونه هم د پيغمبر(ص) له بيبيانو
سره يو ډول دي، هغه هم دده مصطفی ته ورکړم؟ ها؟

پر څوکۍ ناست معلم اخبار غوځار کړ، پنډې عينکې يې لرې کړې:

ـ خبره واوره! اې له حکمته خالي حکيمه! ستا عايشه زما مصطفی
خوښوي.

بېرته يې څېره موسکه کړه:





ـ ياره! زما او ستا په دوښمنۍ کې د ددې ماشومانو زړونه مه ماتوه.

حکيم سر وخوځاوه او له دروازې ووت.

***

حکيم خپله قره قولي پر مېز کېښوده. مخامخ ناستې ښځې ته يې وويل:

ـ ګورئ! زه خپل ټول شرايط... پرېږدم بس؛ يو مناسب غوندې هلک
پيدا کړئ، چې په مسجد کې نکاح کولو ته تيار وي. موږ؛ خو جهيز نه شو
ورکولای؛ اما زما لور له رويته ډېره ښه ده.

ناستې ښځې سر وخوځاوه. حکيم پسې زياته کړه:

ـ اوس؛ خو زما همدا يو شرط دی، چې هر څومره ژر ممکنه وي، ودې
شي. مياشتې او هفتې نه؛ بس چې په ورځو کې وشي.

ښځې وپوښتل:

ـ د عمر خبره او اندازه مو ونه ويله؟

حکيم پر دېوال را ځوړند انځورونو تر نظر تېر کړل، وروبيې وويل:

ـ بس، چې په عمر تر ما لږ کم وي.

ناستې ښځې له الماری دوسيه را واخيسته:

ـ سمه ده، يو سړی شته، د پنځوسو کالو دی. پيسې ډېرې لري اولاد يې
نه کېږي. زه خبره ورسره وکړم؟

حکيم د هو په بڼه سر وخوځاوه او ووت. د ښځې پر مخ ترخه موسکا
پرته وه.

***

د ماخوستن اذانونه پای ته رسېدل، حکيم پر ځادر مخ او لېچونه وچ
کړل. ښځې يې وويل:

—...انسان دی حیوان؛ خو نه دی، چې په سرک یې پرېږدې او خترې
ته؛ خو یې عمر ته لږ وګوره، دا ته څه وایې. دا دې له څنګه چا سره هو
کړې؟

د حکیم شناوۍ زېره ورپېږده:

—دومره هم خرابه نه ده، چې هغه یې غواړې. مخته تردې، چې هغه م
لکه زینب کوم غلط کار وکړي؛ عقل یې باید سرته راوستل شي.

—لېکین. ته..

حکیم چیغه کړه:

—بس؛ د بحث ضرورت نشته، څه چې مې وویل، هغه به کېږي. سباله
مابنامه وروسته نکاح ده.

خادر یې هوار کړ، د لمانځه نېت یې وتاړه. له دباندې د پیشو میو میو
وو.

***

په اسمان کې به یوه یوه ستوري لګی وکړه، زینب خپلې مور ته وکتل،
مور یې ورو وویل:

—پیدا کړې یې یاسته حق یې دی، چې فیصله وکړي.

عایشې سترګې وموښلې، ژړغونې شوه:

—انسان یې پیدا کړي یم موري! ادې دوا بوتلو نه نه، چې زړه یې
وغوښتل هغه ته یې ورکړي او هر ځای، چې وغوښتل ږدي یې.

له همدې خبرې سره د زینب په غېږ کې ورولوېده:

—زه یې نه غواړمه..

زینب پر خپل لاس جوړه نیم ګرم څاڅکي احساس کړل



***

ملا امام له سلام ګرځولو وروسته وویل:

—واورئ! د مسجد کمېټي له غړیو هیله ده، چې له دعا وروسته پاتې
شي.

څو شېبې وروسته په جومات کې پنځه تنه پاتې ول یوه یې وویل:

—د شیخ صاحب د سفر له خاطره موږ اکثره فیصلې ځنډولې وې او تر
ټولو لویه خبره د حکیم صاحب وه. حکیم صاحب تا څو ځله راته وویلي و،
چې له ما څخه د جومات امانت بېرته تسلیم شئ.

د حکیم لاړې ونښتې، سرې زیاته کړه:

—شیخ صاحب په خپله دې کار ته رضامندي ښودلې ده؛ نو سبا
ماسپښین به له لمانځه وروسته، حکیم صاحب خپل ټول حسابونه خلاص
کړي او موږ له ده څخه د دې امانت په ساتلو کې منندوی یو. اوس؛ نو بله
مسله د تعمیر ده...

حکیم له ځایه پاڅېد. نورو پسې غږ کړ؛ څو هغه ووته

***

حکیم د سهار له لمانځه وروسته تر ناوخته پر مسله او چورت یې
واهه لوراني او مېرمن یې هم خواته پر کټونو ناستې وې، وروسته یې
شونډې وخوځېدې:

—هر چېرته چې یې امکان یې و، په ښهر وار کې مو؛ تجربه کړل اوس هم
یو نیم لک روپۍ کمې دي. څه وکړم؟

حکیم خپل دواړه لاسونه مخ ته ونیول، ښځې یې وویل:

—ته د جومات والو ته ریښتیا ـ ریښتیا ولې نه وایې، چې پیسې دې څو ورځو

کې به يې در کړو !
د حکیم رنګ سور شو:
ـ تر داسې ذليلې مشورې را کولو ؛ خو مې دلته مړ کړه. ځلوېښت کاله مې پلار او د پرش کاله ما دلته تېر کړي او هله خو مو خپل عزت ساتلی دی ته غواړې چې دا تول له خاورو سره خاورې کړم؟
ښځې يې په نرمه ور بيا کړه:
ـ زه چې څه وايم د غوسې پر ځای وربانديې په سړو دماغو فکر وکړه. له هغو خلکو يې وغواړه، چې ماشومانو ته يې درس وايي !
حکیم په هماغه لهجه ورډېره کړه:
ـ هغه يې ماته ولې راکړي ها؟
بيا يې زينب ته ګوته شخه کړه:
او که په بدل کې يې دا مرداره هلته پر پرېږدم؟ ها؟ بيا يې ؛ نو بنايې راکړي.
زينب، د پلار لخوا پلو نور هم را کش کړ:
ـ سم وايې پلاره ! زموږ...
خبره يې په نيمه کې ور پرې کړه:
٥٧٧
ـ پليتې ! خوله دې بنده کړه !
ښځې يې ژړغونې شوه:
ـ د خدای لپاره، دا د قهرېدو وخت ندی !
زينب وويل:
ـ زه د ځان خبره نه کوم. له هغو خلکو سره ډېرې روپۍ وي. زموږ کور سم دم اخېستی شي او بيا که يې نه شي اخېستلای؛ ګرو دې يې ونيسي.
حکیم دا ځل څه ونه ويل، تول همداسې ناست و. شېبه وروسته حکیم دباندې ووت.



تولو ناستو په خمکه کې سترګې ګنډلې وې.

***

حکیم توره قره قولې پر سر  ـمه کړه، د اس ګاډيوان يې ته اشاره وکړه. شېبه وروسته اس ګاډی په تنګو کوڅو کې را تاو شوه. کوڅې همداسې بدلېدې له پنځلس دقيقو وروسته اس ګاډی د يوه لوی جومات تر څنګ تېره شوه، حکیم ژر ـ ژر ساعت ته کتل، شېبه وروسته يې وويل:
ـ بس همدلته کښته کېږم !
بيا يې کوڅې کږ کړې، کوڅې هم وار په وار تنګېدلې. شور او ځوږډ پر و؛ خو د حکیم چورت نه ور اوښت. لږ مخته ولاړ، له هرې دروازې ښه مست سازونه راوتل. حکیم په لاس کې نيولی کتاب ژر په چوپانه کې پټ کړ. د يوه وره را ځړېدلې پرده يې پورته کړه، په اېښې کټ کېناست وخت ووت،
حکیم چورتونو اخېستی و، غږ يې واورېد:
ـ حکیم صاحب، ته په دې وخت کې؟
حکیم لا هماغسې چوپه خوله ناست و. چوهدري په کټ پرتې ډوډۍ ته اشاره وکړه. وروسته دواړو سهارنۍ وخوړه، حکیم لګيا شو، ناست کس يې خبرو ته ځير و. د هغه د خبرو په منځ کې به يې يو ـ يو وار پر غاړه بند تاويز په موټ کې ونيو. له کابو لسو دقيقو وروسته حکیم غلی کېناست کنجر غته ګوله وکړه، په ډکه خوله يې وويل:
ـ ګوره ناشته دې په خوند ـ خوند وکړه، د پيسو کار به وشي.
ـ حکیم تندی پراخ کړ، سر يې نور هم ور نږدې کړ:
ـ وبه شي؟
چوهدري لا ګوله ژودله، په ځان اچولې برک څادر يې سم کړ:

- بلکل به وشي زه له هسې کنجرانو څخه نه یم؛ خو په دې شرط کوم حال
او خبرې چې دې راته وکړې، رښتیا دې ویلي وي؟!
حکیم په لاس کې نیولې ډوډۍ کېښوده:
- نو زه به تاسو ته ولې دروغ وایم، ما د جومات له چندې یو...
کنجرې خبره ور پرې کړه:
- زه دْهغو خبره نه کوم اووه لوراني لرې.. زوی یو هم نه هاهاها.
حکیم لاس څنډ واهه، په شین وزمه برېتو کې یې شونډې بوخې را
ووتې. چوهدري پسې زیاته کړه:
- که ته په مونږ کې وای؛ اوس به میلیونر وای میلیونر! زه خو داسې
نامراده سړی یم، چې له یوې لور وروسته مې د زامنو لین کتار کړ. له پنځمې
وروسته زه په توبه مجبور شوم
ژر یې د اوبو ګیلاس پر غاړه واړاوه:
- حکیم صاحب! دوه نیم لکه روپۍ هم څه کم شی نه دي؟
حکیم په بېړه ووېل:
- خو زما کور او دوکان هم داسې بېکاره او ساده ځای نه دي، له دې په
ډېرو ارزي.
سړی په خندا شو:
- ګوره حکیم صاحب! کور-مور دې الله تاته در مبارک کړي زه خو خبره
کوم پاکه او سپینه ته باید ماته یوه لور راکړې!
حکیم جګ ودرېد:
- دا ته څه اپلتې وایې...
کنجر ژر تر لاس ونیو:
- اوهو؛ کېنه زه هغه خبره نه کوم، چې تا یې فکر وکړ. الله دې ستا



لوراني په پرده کې لرې زه د هغو خبره نه کوم کېنه – کېنه!
حکیم لا هماغسې وچ ورته کتل، شېبه وروسته کېناست.
- نو بیا؟
ناست کس سر ور نږدې کړ:
- الله تاته داسې هنر درکړی، چې که دا خبره دلته خپره شي؛ نو مزې دې
دي، مزې!
حکیم سر وښوراوه:
- زه ستا په خبره هیڅ پوه نه شوم!.. څنګه هنر؟
کنجر غابنونه ژېړ کړل:
اوس دې پوهوم. ته لوراني پیدا کولای شې! داسې نارینه؛ خو زموږ
لپاره غمي دي، غمي. تیار لکه بانک...
حکیم بیا سر وخوځاوه:
نه پوهېږم. سپینه خبره وکړه!
سړي په موسکا شونډې وخوځولې:
- ته باید یوه لور را وزېږوې! خاص زما لپاره. ته به پلار یې او زموږ
مینا به مور وي
حکیم په ځمکه کې سترګې خښې کړې، سړي زیاته کړه:
- زه تاته وار له مخه، یانې د نجلۍ قیمت په پېشکي کې درکوم
له دې سره یې ګوله پورته کړه، حکیم ورته لاس ونیو:
- دا څه اپلتې وایې. دا تاته چا ویلي، چې نجلۍ پیدا کول د نارینه کار
دی؟
کنجر د شرومبو غړپ وکړ، په برېتو یې سپینه لیکه پاتې شوه:
- ګوره حکیم الله! زموږ خو کار په نجونو چلېږي که مونږ ته دا خبره نه

وي معلومه؛ نو چاته به معلومه وي؟

تاسې حکیمان او ملایان هر وخت ساینسي خبره په سر کې نه منئ؛ خو دا خبره ثابته شوې ده، چې لور او زوی دواړه د نارینه له وجې پیدا کېږي او ښځې په دې کې هیڅ هم نشي کولای.

حکیم شونډې کږې کړې:

– بېخي چټې خبره ده.

کنجر وخندل:

– دا ګوره. ولاړه شه، له کوم ډاکټر څخه پخپله پوښتنه وکړه.

حکیم بېرته ګوته ده ته ونیوله، په پوښتونکي انداز یې وویل:

– فرضاً. که ما دا خبره وهم منله؛ نو دا هم راته ووایه که نجلۍ نه شوه او هلک شو بیا؟

سړي ژر وربیا کړه:

– بیا یې ته درسره یو سه هسې به دې هم په دې تېر عمر کې اوږه پرې سپکه شي.

حکیم چورت واخیست نارامه ښکارېده، کنجر یې رنې ککرۍ د شا اوږدو وېښتو او شناوۍ ږېرې ته وکتل، بیا یې وویل:

– دا اوس هم زما شرافت وبوله، کنه ما دا هم درته ویلای شوای، چې که هلک شو، ته به بېرته ماته خپلې روپۍ راکوې؛ خو ما دا خبره ونه کړه. قمار دی؛ نو...

حکیم په تریو تندې ور وکتل ده پسې زیاته کړه:

– ستا پخواني ریکارډ ته، چې ګورم دې لوبې کولو ته مې زړه وشي.

حکیم ژر غبرګه کړه:

– نو یوائې د یوې وړې ماشومې لپاره دومره روپۍ؟



کنجر اړخ ته پر اېښي بالښت ځنګ ولګاوو:

– د یوې پې مخې تجلي له خاطره زموږ دوه، درې نسله سمبالېږي باچا، پوهېږې؟

او کومې روپۍ چې ته یې غوارې، دا خو په یوه شپه کې بېرته لاسته رواړې، خیر د بانک تر بندېدو پورې خپله پرېکړه وکړه.

د حکیم په خوله کې نارې وچې شوې، په زحمت یې خوله جوړه کړه:

– اه!!.. له دې خایه جومات څومره لیرې دی؟

کنجر په خندا کې مخامخ ګوته ونیوله:

– دا ګوره. لېرې چېرې دی، بس د کوځې شاته عباسي مسجد دی، دوه قدمه لاره ده.

د واړه سرای په منځ کې خډر سپي وربوز واهه، حکیم په منډه ووته.

***

عایشې د خپلې مور په غېږ کې سر اېښی و. هغې شپېه په شپېه ښکلوله شاوخوا ناستو نجونو ته یې وکتل، سترګې یې پاکې کړې. زینب چې په پاسني وره کې ولاړه وه، خپلې مور ته یې اشاره وکړه. په زینو کې ور په غوږ شوه، دواړې بیا بام ته وختلې. د تیټ دېوال تر سورې را ښکاره ښځې ور غږ کړ:

– سترې مشې خورې! زه نن خبره شوم، ماته زینب لور وویل. زه خو هیڅ نه پوهېږم، چې سړی څه وکړي

هغې لا خبره نه وه خلاصه کړې، چې خاوند یې پسې زیاته کړه:

– دا حکیم لالا ولې دومره سخت دی؟

زما په ذهن کې د دې مسلې لپاره یوه حل لاره شته؛ خو ډارېږم، چې

تاسې بې ومنئ او کنه؟

زینب او مور یې نقشداره خښتو ته وچې سترګې نیولې وې د هغه له دې خبرې سره یې وویل:

ـ ووایه وروره!

ـ زه وایم، چې دی خبرې مور به د عایشې او مصطفی واده وکړو. خیر دی ډنګ او ډول به نه راولو، بیا به نو دی څه وکړي؟

دېوال ته ولاړې ښځې او زینب یو بل ته وکتل.

***

حکیم په لوی سره جومات کې اودس تازه کړ، له یوې الماری یې کتاب را واخیست په جیب یې ګوتې ووهلې، عینکې یې په سترګو سمې کړې، کتاب یې په منځ خلاص کړ، سترګې یې پټې کړې، ګامچه ګوته یې پرې وګرځوله، بیا یې سترګې پرانیستلې. په ګوته شوې کرښې ته یې وکتل، ګوته د کتاب تر پایه ورسېده. له سترګو یې عینکې را کښته کړې، سترغلي یې سره وروستل، د کتاب پر پانه جوړه څاڅکي ولوېدل.

ساعت ووت. بېرته یې ځان تر هماغه کټ پورې ورساوه. په کټ د ناست کس جاغه خلاصه وه، له خولې یې د چلم نل لیرې کړ، لوخړه یې اسمان ته پوف کړه. کنجر نېغ کتل، حکیم شېبه چوپ ناست و، بیا یې وویل:

ـ شرط دې زما قبول دی؛ خو زه هم یو شرط لرم. که ستاسې رواج وي او یا نه وي، زه نکاح تړم.

سړي له نله خوله پورته کړه:

ـ ښېخي سمه ده. زه به د پیسو چاره وکړم؟

حکیم یې لاس ونیو:



ـ صبر اته به په پاک قران لاس ږدې، چې دلته به زما د راتګ خبره هیڅ وخت او هیچا ته نه کوې!

سړي وخندل:

دلته خو نه څوک د چا د پلار پوښتنه کوي او نه؛ خو هم چا ته معلومه وي، که رښتیا ووایم، په خدای قسم چې ما ته هم نده معلومه هاها...

د سړي خندا اوږده شوه، حکیم په ګونځن تندی ګوتې تېرې کړې، لمدې شوې.

***

حکیم چې لاس ته وکتل، دوه بجې وې. په جېب یې لاس وواهه، ترخه موسکا یې وکړه. شېبه وروسته په جومات کې پنځه کسان پاتې شول. حکیم دده تر څنګ ناست سړي ته وکتل، هغه سر وښوراوه. حکیم جېب ته لاس کړ او بیا یې دوه بنډله روپۍ پر کتابچه کېښودلې. مخامخ ناست کس په کتابچه کې کرښې کش کړې. حکیم ورو وویل:

ـ شکر دی د هغه ذات، چې زه یې سور مخی نه کړم.

شېبه وروسته له جوماته ووت. څو ورځې تېرې شوې. په یوه سهار یې بیا کوڅې پر مخه ورکړې. لس دقیقې وروسته د کنجر کور ته ورسېد. پرده پورته کړه، یو دم یې قدم ونیو، چوهدري کنجر په سرای کې ولاړ و. هغه وخندل:

ـ اوهو؛ بسملیا بسملیا، اسلام علیکم هاهاه... زه همدا تاته په تمه وم. دا درې ورځې به په تا هم سختې تېرې شوې وي؟

او ګوره حکیم صاحب! هسې؛ خو زموږ ښځې د سړي شکل مکل ته نه ګوري؛ خو مینا یو څه بدله نجلۍ ده. زه ډاربېږم هسې نه، چې تا په دې ډول

وګوري او زړه یې مات شي.

حکیم په خپل ځای غلی ولاړ و، کنجر د حکیم په شنه ږیره او وېښتانو لاس تېر کړ:

– ته زوم کېږې نو باید لږ؛ خو د زوم پشان ښکاره شې. که څنګه؟

ساعت وروسته غنمرنګه ځوان د حکیم ږیرې ته برس کښلی و، حکیم په اینه کې وچې نیولې وې. تر شا ولاړ تورکالي یې ننداره کوله

وخت ووت. د لمر رڼا د غولې تر نیمې راغلې وه، کنجر حکیم ته مخ ور واړاوه:

– له دې تورو وېښتانو سره؛ خو سم شل کلن ښکارېږې! هاها

حکیم په آینه کې خپلې کونډې ږیرې ته کتل.

❋❋❋

زینب وتوخل. له مایکونو یې مخ بل پلو کړ. شېبه وروسته یې په موسک انداز وویل:

– ابا له کوره دباندې تللی و، د پنجشنبې ورځ وه او مور په پټه د عایشې واده له مصطفی سره وکړ. معلم صاحب هم ډېر بېروبار جوړ نه کړ. بس تر غرمې مو ټول رسمونه پر ځای کړل

خو د ابا وېرې له مور ټولو مسکا لوټله مور تر هغې نه و خبر، چې هغه به چېرې وي.

❋❋❋

حکیم په خپله غاړه را ځړېدلو ګلانو ته وکتل. په څنګ یې ناست کس وویل:

– ستاسو نکاح له مسمات سفینه بېګم سره په پنځوس زره سیکه رایج



الوقت باندې تړله کېږي ستا قبوله ده!

قاضي خپله خبره بیا تکرار کړه، تور کالي کنجر په څنګ وښوراوه:

– تاته وایي حکیم صاحب!

حکیم په ورو سر وښوراوو:

– قبوله مې ده.

څو شېبې وروسته یې حکیم یوې لوې کوټې ته ننویوست. حکیم په کوټه را خوړندو انځورونو ته وکتل، بېرته یې سر کښته کړ. د کوټې په یوه بغل کې دوو پرتو تبلو ته یې پام شو، سترګې یې کلکې کړې بیا یې ښې اړخ ته وکتل، پنډ پنډ پایزېبونه پر الماری را ځړېدل. حکیم حیران حیران وکتل، تورکالي کنجر غږ کړ:

– څه ته حیرانېږې؟

مینا ډېره ښه نجلۍ ده. هغه اوس زموږ له یوه ډېر پخواني او ښه ګیراک سره ده. یانې ملک صاحب یې بولو، هغه مخته لا بوکینګ کړی و؛ خو ډوډۍ به له تاسره خوري. ته تر هغو لږ ارام وکړه، سمه ده.

کنجر ووت. حکیم شېبه ناست و او وروسته یې پر پالنګ سر ولګاوه، خوب پرې غلبه وکړه. وخت تېر شو، سپوږمۍ تر لویې کړکۍ له واریه ښکارېده. د پایزېبونو وړه–وړه شرنګا شوه، حکیم سترګې رنې کړې، اړخ ته یې وکتل. د ولاړې نجلۍ پر سپینو پښو یې سترګې ونښتې.

تندۍ یې سره وروو ست. سترګې یې په پنډو پایزېبونو کې ښخې وې. ورو یې سر راپورته کړ، په ونه دنګه نجلۍ ولاړه وه. له سر تر پښو یې هغه تر واړه نظر تېره کړه. غټې سترګې، سرې کړې شونډې، د سرو غاړکۍ، سپینې نازکې او نیولې جامو یې د حکیم هوښ یوړ. دی لا هماغسې چورت وړی و، چې ولاړې نجلۍ ښی لاس پور ‌کړ، په ناز وویل:

آداب. ستا پښې مې ولیدې، ډېرې ښکلې دي. دا له کته په څمکه مه ږدئ، خوند نه کوي

ـ ته؟

نجلۍ موسکه شوه:

ـ مینا. یم تاسو ولې را کښېنستئ. همداسې به غښېدلې وې، نواب صاحبه!

بیا د حکیم تر څنګ پر پالنګ کښناستله، له خپلو پښو یې پنډ پایزېبونه خلاصول حکیم وویل:

ـ ګورئ! زما د مجبورۍ مطلب هېڅوخت دا نه دی، چې ته رابانډې تو کې و کړې!

له دې خبرې سره حکیم په لاس کې نېولې قره قولي ټینګه ونیوله، مینا مخ ور واړاوه:

ـ تاسو ولې داسې سوچ و کړ، چې زه به په تا ریشخند وهم خدای دې نه کړي

حکیم تندی تریو کړ:

ـ ګمان نه کوم، یقین لرم په کومه لهجه چې ته خبرې کوې، د هغې دلته څه کار او هغه اوس چې تا زما ا اااا د پښو په باره کې...

مینا خلاص کړي پایزېبونه شاته وغورځول:

ـ داسې ښکاري، چې تا پاکیزه ندی کتلی. کنه د ناراضګۍ پر ځای به دې شاباسی را کاوه.

حکیم ژر ور بیا کړه:

ـ دا بیا کومه صاحبه ده؟

مینا وویل:



فلم دی تا نه دی کتلی؟

ـ کومه یوه صاحبه ـ ماحبه نه ده، فلم دی تا نه دی کتلی؟

حکیم سر وښوراوه:

ـ موږ فلمونه نه ګورو.

مینا ساه واخېسته، په حیرانۍ یې وویل:

ـ رښتیا؟ ما خو ویل، چې تاسو به یې ډېر ګورئ څکه؛ خو په هره خبره کې لکه د فلمي نوابانو غوندې، د تاسو توري کاروئ

حکیم ژر ور بیا کړه:

ـ زموږ په ځای کې همداسې وایي. ته ـ ته او زه ـ زه لفظونه کارول بده خبره بولي؛ خو ستا داسې لهجه ما لړ په سوچ کې کوي؟

نجلۍ پر سر شاته تللی جالۍ تکړی سم کړ:

ـ هسې خوږېږي عمر او جان او پاکیزه غوندې فلمونه مې سل ـ سل ځلې لیدلي دي هله؛ خو مې دا لهجه او ژبه د ځان کړې ده

موږ خو وایو، چې که طوایف وي؛ نو د لکنو سیمې دې وي. کنه نو بهتره ده، چې هېڅ سوچه اردو و نه وایي.

حکیم څمکې ته کتل نجلۍ مخامخ دېوال ته و کتل، بیا یې ګوته دېوال ته نېغه کړه:

ـ هغه مینا جانه ده، د پاکیزه فلم نجلۍ، له دې څخه په تقلید کولو ما حتا خپل نوم لا له سفینې څخه مینا ته بدل کړ.

وروسته یې د حکیم پر اوږه لاس کېښود:

ـ اوس نو غوسه تو و کړه. د خپل ځان په اره؛ خو دې هم لږ راته ووایه؟

حکیم موسک شو، مینا ته یې و کتل:

ـ ش شش شفاعت الله خان نوم مې دی

له همدې سره په وره کې یو څنګېدلي ځوان په بدله لهجه څه وویل. مینا تندي ته لاس ونیو، بیا یې د هغه ځوان په لهجه توندې خبرې وکړې. حکیم یوې او بلې خواته کتل. بېرته حکیم ته مخ کړ:

ــ وبښه، زه د ډوډۍ ورته وایمه او راځم

تر دروازې ولاړه، قدم نیولې شوه. شاته یې را وکتل:

ــ ته ویده کېږې هم له کورتۍ سره؟

مینا روانه شوه، حکیم د کورتۍ په تڼیو لګیا شو.

***

په وړنه کې د مرغانو شورو، حکیم ساعت ته وکتل، نهه بجې وې دروازه یې خلاصه کړه، کنجر په خندا سپي لاس تېر اوه. حکیم له وره سره پښه نیولې شو. کنجر وویل:

ــ اوهو... په خیر ـ په خیر. سهار په خیر! راځه ډاریږه مه، دا هم زموږ د کور غړی دی، څنګه چې اوس ته یې.

حکیم ورمېږ کوږ کړ، پر پلاستکي سطل کېناست. تندی یې تریو کړ:

ــ له کله مې چې ښې او چپې لاس پېژندلی دی، تر اوسه نه؛ خو د نن سهار لمونځ رانه قضا شو.

کنجر خندا واخېست. د سپي ځنځیر یې وشرنګاوه:

ــ مینا خو به اوس ان ترما سپېښینه ویده وي، ته دې خپل لمنځونه پسې پوره کوه.

کنجر له سپې سره یو خای ووت، حکیم تیټ کتل.

***

نجلۍ له پاکټ څخه ګلاب جامن ور واخېست، خندنۍ شوه:



ــ (حفسې) خورې د نن تاریخ درسره ولیکه، چې پلانۍ ورځ مو دومره ډېر ګلاب جامن کورته راغلي او انیسې یوه ته هم لاس ورنه وړ.

انیسې تور وېښته تر غوږ واړول:

ــ له وېرې مې اشتیا سوځېدلې ده.

زینب چې دېوال ته یې شا کړخولې وه، ورو وویل:

ــ تر وېرې ور هاخوا؛ خو هم لږ فکر وکړئ، چې یو څوک خو به لا په ارامه ژوند ولري

مخامخ ناستې پخې ښځې ناهیلی غږ وکړ:

ــ لورې! دلته، چې کوم قیامت راتلونکی دی، هغه به..؟

زینب خبره ور پرې کړه:

ــ مورې! هیڅ قیامت به نه راځي، نور به لا څه وشي؟

زینب لا دا خبره نه وه پوره کړې، چې کړکۍ ته ولاړې اسما وویل:

ــ هغه دی قیامت راغی!

حکیم له اس ګاډۍ ښکته شو. په کوټه کې ټولو ناستو نجونو او په عمر پخې ښځې ټکري سم کړل. شېبه وروسته حکیم د ټولو مختې ولاړ و. هغه ټولې تر نظر تېرې کړې. دوی ټولو یو بل ته وکتل. ښځې یې په خوله لاس ونیو، حکیم لږ موسک شو، بېرته یې تندی تریو کړ:

ــ د سلام ادب لکه په کور کې ختم شوی دی؟

ټولو په یوه وار او وېرېدلي غږ وویل:

ــ اسلام علیکم.. پلاره!

حکیم لا هماغسې په وره کې رلاړ و، زینب له کټ څخه را پورته شوه. د هغه خواته ورغله، د دواړو تر منځ کابو متر واټن و. حکیم ورته په خپر کتل. زینب یې کونډۍ تورې زېړې ته وکتل، په زحمت یې خبرې ته خوله جوړه

کړه:

ـ ابا ! ته ماته ووایه، چې زه تاته ډنډه راوړم او یا که د خاورو تیل او یا هم اور لګیت؟

حکیم پوښتنې ته خوله جوړوله، چې زینب پسې زیاته کړه:

ـ ځکه چې ما یوه ډېره لویه ګستاخي کړې؛ خو په ډېر فکر او سوچ سره مې کړې ده او د هغه لپاره که ته ماته هره سزا راکوې، زه یې په سر سترګو منم

د حکیم لاس ورږېږدېد:

ـ بیا دې څه جک وهلي دي؟

په ناستو کې د پاخه عمر مېرمنې ژر-ژر ساه اخېسته په څنګ ولاړې لور یې لاس ټینګ نیولی و.

زینب وویل:

ـ ځکه چې ما نه غوښتل، ته له عایشې سره هغه څه وکړې، څه چې له ماسره وشول. له دې خاطره ما مور مجبوره کړه او عایشه مو له مصطفی سره رخصت کړه.

حکیم لویه چیغه وکړه:

ـ خرې.. حرامونې...

تر ختې یې ونیوله، مخامخ یې ټېله کړه. پر دېوال راځوړند آئینه زرې ـزرې شوه. ټول کور ژړا واخېست، په عمر پخې ښځې حکیم تر ولیو ونیو.

د زینب له پوزې او تندې وینې روانې شوې

***

د زینب ټوخی او ساه درېدل نور هم ډېر شول؛ خو خپلو خبرو ته یې دوام



ورکړ. لاندې ولاړو کسانو ژر-ژر نوټ نیو. په دوی کې بیا هماغه ولاړه نجلۍ دباندې ووتله زنګ یې وواهه، له ځواب ویلو سره سم دم یې وویل:

ـ ګورئ! تاسو ولې ولسمشر ته نه وایاست، چې دا نجلۍ مړه شي بیا به ورته وایي؟

دا څنګه خلک یاست؟

د مقابل لوري خوبولي غږ یې واورېد:

ـ تاسو په ما ډېر فشار اچوئ، ولسمشر زما په خبره اعدامونه نه بښي.

دې نرمي را واخېسته:

ـ د بښنلو څوک درته وایي. زه خو وایم، چې دا اعدام وځنډوئ، یانې زه باوري یم که دا دوسیه بېرته له سره خلاصه شي، دا نجلۍ به بې ګناه ثابته شي. مقابل لوري اړیکه پرې کړه. نجلۍ بېرته د ډله ولاړو ژورنالیستانو په منځ کې ودرېده. زینب لګیا وه:

ـ زما پوزه او تندی تر ډېره وخته پړسېدلي و. مور ټولو یو بل ته کتل او د زړه خبرې به مو په سترګو کې سره شریکولې.

وخت روان و. څو میاشتې ووتلې، ابا له مور سره خبرې نه کولې.

***

حکیم به یو-یو ځل د چت پورته کوټې ته کتل بیا به یې په ګوت ځنډنې وویل:

ـ ګورئ! داسې یې لولی، ماته غوږ شئ ((وضحاها...وایاست، و صواهاها مه وایاست..)).

ـ ناستو ماشومانو هم ورسره تکرار کړه. حکیم بیا تکراروله، چې یو ځوان یې شاته ودرېد:

ـ نواب صاحب! تاسو یې غوښتي یاست.

حکیم مخ ماشومانو ته کړ:

ـ ځئ! یاني اتې ولاړ شئ؛ خو سبا باید داسې نه وي، سم یې زده کړئ!

حکیم په مخامخ دروازه ننوت، دوهم منزل ته وخوت، په کوټه کې
کېناست. مینا وخندل، بالښت ته یې ارخ ورکړ، په ناز یې وویل:

ـ تاسو نواب کم او مولوي ډېر یئ. هغه هم یې کچې کنجوس
د واده پر اوله ورځ ما ستاسو د پښو لپاره خومره ښکلې جملې سره
پېیلې وې؛ خو تاسو زما د صفت لپاره یو توری هم نه لرئ؟

حکیم موسک شو، مینا خپلې دواړې پښې د حکیم پر زنګون ور سپرې
کړې:

ـ زما پښې ښکلې نه دي، که څنګه؟

د حکیم ژبه بنده - بنده شوه، په شاعرانه انداز یې وویل:

ـ ((ستا نازکې پښې لکه ململ دي- چې ورته ګورم زړه مې ځای ته نه
راځینه))

مینا په خوند وویل:

ـ وا... خبره؛ خو دې تر پاکیزه ولا نواب هم ښکلې وکړه؛ خو دا بیا بېله
خبره ده، چې تاسو له زړه ونه کړه.

حکیم ور وکتل:

ـ تاسو ولې داسې وایاست؟

مینا په خندا کې شونډې بوڅې کړې:

ـ که داسې نه ده؛ نو څنګه ده؟

زما پښې له تاسره دي او ته یې چې فکر دې خدایزده چېرې دی

حکیم دورې - دورې وکتل، په مناسبه جمله پسې یې سترګې وغړولې:





ـ که دا لاسونه تل ستاسو د واک شي؛ نو ایا دا پښې به یې تل ملتیا
وکړي، هر چېرته یې وغواړي، ورسره ولاړې به شي؟

ـ مینا ځمکې ته وکتل، په طلایي رنګه وښتو کې یې ګوتې ډېمونځ
کړې:

ـ دا چې راتلونکې لور دې دلته پاتې نه شي، ځکه غواړې ما هم له ځان
سره بوځې؟

حکیم ژر ځواب ورکړ:

ـ دا خو زه ستاسو لپاره وایم. تاسو زما عزت یاست، زموږ نکاح شوې
ده.

ـ مینا لا هماغسې څنګ لګولی و، سترګې یې رډې کړې:

ـ نکاح یواځې ستا ضرورت و نواب صاحب! کنه دلته؛ خو هیڅ داسې
رواج نشته

حکیم په لاس کې نیولي ګېلاس ته کتل، مینا زیاته کړه:

ـ که زه تاته ووایم، دا به تاته ممکنه وي، چې ته خپله بېګم صاحبه او
لورانې پرېږدې او له موږ سره بل ځای ته ولاړ شې؟

حکیم سر وخوځاوه:

ـ هغوی له ما بغیر د ګټې هیڅوک نه لري

ـ مینا ور غبرګه کړه:

ـ او دلته... له ما بغیر د ګټې کومه ښځه نشته

له ځایه پاڅېده، په سپینه غاړه را پرته چوټۍ یې شاته کړه. حکیم تر بغل
په تریو تندی ور وکتل. شېبه وروسته د پازېبونو شرنګا ورکه شوه.

***

زینب زنګون بدل کړ. وړه ګوله یې خولې ته کړه، تر څنګ دوو ناستو
نورو نجونو حکیم ته کتل. له دوهم ځل کتلو سره یې د پاخه عمر ښځې ته
اشاره وکړه. هغې له ګولې ژولو وروسته په زحمت وویل:

ـ تا ځواب راښکړ؟

حکیم په ډکه خوله زینب ته ګوته ونیوله:

ـ کومې پلیتې، چې دا فکر کړی اول؛ خو هغې ته وو ایه، چې له دې ځایه
ولاړه شي.

زینب په لاس کې جوړه کړې ګوله بېرته غوځاره کړه، تر مخامخ وره پناه
شوه. حکیم تندی تروش کړ:

خبردار! که یوې لا هم له دې کوره دباندې د قدم ایښودلو خبره کړې وه
ناستو نجونو په وېرېدلي انداز سر وښوراوه. حکیم خپلې ښځې ته وکتل:

ـ کار به کړي؟ څه کار به کړي؟

په کوم دفتر کې به مشره مقرره شي؟ خپل کلینک به خلاص کړي؟ او یا
که په به پارلمان کې وکیله شي؟

وو ایه، تاته وایم.. یا پوښتنه وکړه له هغې ځرافې څخه، چې هغه په دوی
باندې څه غواړي وکړي؟

بې سواده نجونې، چې بازار ته ووځي؛ نو پوهېږې څه به کوي؟ لږ عقل
دې شته؟ ما د کنجرانو کور ته تګ شروع کړی دی، کنجر شوی لا نه یم، چې
په نجونو کار وکړم

وادې ورېدل؟! ها...

ټول غلي ول. حکیم ولاړ شو، د دروازې په خوله کې یې پښه ونیوله
زینب د حکیم لاس ونیو، ژړغونې شوه:

ـ ابا موږ خو غوښتل له تاسره مرسته وکړو، چې ته څومره یواځې شوی





بې ابا داسې به څنګه زموږ د کور حالات سمېږي؟

حکیم لاس ترې کش کړ:

ـ د حالاتو سمولو لپاره؛ خو مې زوی غوښت، راغلی تاسې ټولې
شیشکې. هغه هم درزن په درزن...

ـ او داکتار چا ولګاوه؟

موږ خو ضد نه و کړی، چې پیدا شو! له دوو - درو وروسته به دې صبر
کړی و. کتار دې پخپله جوړ کړ او نوم د الله(ج) پرې وهې؟

حکیم لاس پورته کړ، نجلۍ پر دېوال پسې سربښ شوه. سر یې ښوراوه،
په لاندې تللو زینو کې روان شو، زینب په ژړا کې سوړ اسوېلی وکیښ.

***

د کړکۍ په ژۍ ناست سړي وویل:

ـ حکیم صاحب! څه خبره ده. هر وخت دې، چې په جومات کې وینم، ډېر
خواشینی او پرېشانه ښکارېږې؟

حکیم سړه سا واخېسته، ورو یې خپله پښه راټوله کړه:

ـ یوې لور مې ډېر پرېشانه کړی یم ببخي ملحدانه فکرونه یې پیدا کړي
دي، له دې خبرې سره په محراب کې ناست امام او نورو تر څنګ ورو کتل
حکیم سر وخوځاوه:

ـ په دین کې نقطې را کاږي، په حدیثو پوښتنې را پورته کوي
امام سترګې رډې کړې:

ـ استغفرالله.. دا ته څه وایې، حکیم صاحب!

حکیم ښکته وکتل:

ـ سمه وایم د هغې په سترګو کې بغاوت دی، ژبه یې له زهرو ډکه ده.

تول سوچ واخیستل حکیم وویل:

-زه ډاریږم، چې یا خو به هغه له منځه ولاړه شي، یا به زه مړ شم...، د هغې په لاس ونو...

له دې تکي سره تولو یو بل ته سر وخوځاوه.

***

زینب لا خپله کیسه کوله، د کمرې شاته ولاړې نجلۍ، کمره مېین ته ورپه غوږ شوه او بیا وتله د مبایل تنۍ یې کیکاږله:

- څنګه شو؟

د مقابل لورې له خواب سره یې په غوسه زیاته کړه:

- ګوره اصلي خبره داده، چې ته له ولسمشره وېرېږې! مرګ درباندې راځي، چې هغه په دې وخت کې را کښېنوې

خو شرارت صاحب! زه به تاسو ته دومره ووایم، چې که تا هغه را پورته نه کړ؛ نو زه به په خپل تلوېزون کې دومره شور وکړم، دومره شور وکړم...

سړي خبره ورپرې کړه:

- ته ما ته اخطار راکوې؟

نجلۍ سترګې برندې کړې:

- هو...، درکوم یې اخطارونه د یوه انسان ژوند له منځه ځي او له تاسره د ولسمشر د خوب غم دی. اخېر هغه دی څوک، خدای پاک؟

مقابل لوري په سړه سینه وویل:

- سمه ده، سمه ده. ته ډېره مه جذباتې کېږه، زه به یو څه کوم.

تلیفون یې بند کړ، شونډې یې وچیچلې:

- جذباتې کېږې مه...هه



شاته یې وکتل، منډه یې واخیسته وریې پرانیست، پر تخته ولاړه نجلۍ لا لیګاوه:

- مصطفی چې ډاکټر شو؛ نو عایشې موږ ته ډېرې شیرینۍ او ډالۍ راوړلې. تول کور ته داسې ښکارېدله، چې ژوند اوس پیل شو. ما به اکثره وخت فکر کاو، چې ابا پر موږ د سختګیرۍ له خاطره د یوه ښه انسان پر ځای، بدیو ته مجبوره کړې وو.

موږ به وړې وړې خوشالۍ او خوښۍ هم له هغه پټولې.

***

تلیفون وشرنګېد. په عمر پاخه سړي ارخ بدل کړ. د پالنګ ښۍ خواته یې لاس اوږد کړ، تته رڼا خوره شوه. سترګې یې وموښلې.

تلیفون یې غوږ ته ونیو، شېبه یې د مقابل لورې خبرې واورېدې سترګې یې رډې شوې، تندې یې ګونځې وکړې:

-اوس به مې د میډیا والو ته هم ویلي وي دا فیصله به اوس یوه ژورنالیسته کوي، چې څوک ګناهګار دی او څوک نه دی؟

او تر هر څه مخته هغه د ملک ولسمشر دی، د دومرې بې ځایه خبرې لپاره؛ خو تا باید زه لا له خوبه نه وای را کېنولای!

مقابل لوري خبرې ته خوله جوړوله، چې سړي په غوسه وویل:

- ته هم پرېو څه

***

له درېیم زنګ سره تلیفون پورته شو، ژورنالېستې نجلۍ په تلوار وویل:

- څنګه شو، چا ته مو وویل؟

ـ ورو غږ یې واورېد:

ـ ګوره! اما د ولسمشر له لومړي مرستیال سره هم خبرې وکړې، دې نجلۍ ابتدایه محکمه، استناف، ستره محکمه، په هیڅ ځای کې یې د خپلې بې ګناهۍ ثابتولو لپاره حتا یوه ټکی هم ندی ویلی.

ټولې شاهدۍ ددې پر خلاف دي؛ نو چې د مرګ سزا یې نه وای تاکل شوې؛ نور به څه وه؟

نجلۍ په غاړه کړی کارت په ګوتو واړاوه، څېرې یې تغیر وکړ:

ـ دا ما ته نده معلومه، چې دې نجلۍ ولې په محکمه کې خپله خوله نده چوله کړې؛ خو زما زړه وايي، چې دا نجلۍ بې قصوره ده.

ـ د سړي غږ بدل شو:

ـ مېرمنې! ستا زړه خدای خبر، چې څه به وايي او څه به کوي؛ خو حکومت ستا د زړه ګوتې په نیولو سره نه چلېږي ډېر وبښه...

نجلۍ چې لا یې تلیفون غوږ ته نیولی و، د زندان منځنۍ دروازه خلاصه کړه په زوره یې وویل:

تاسو ته نده معلومه، چې له تاسو سره څه کېدونکي دي.

کله چې ما دا ویډیو پر تلویزون خپره کړه او ټول ملک د دې نجلۍ لپاره وژاړي؛ نو زه به په چیغو ـ چیغو ووایم، چې ترا خبرې وخت پورې ما د دې نجلۍ د ژغورلو هڅه کوله؛ خو د ولسمشر خوب د دې مظلومې نجلۍ تر ژوند ډېر مهم و. دا نجلۍ خو اوس نه پاتې کېږي؛ خو ته به هم بچ نشې!

مبایل یې د پولیسو پر مېز کېښود، د ګټو ولاړو خبریالانو شاته ودرېده. زینب ورو ـ ورو لګیا وه:

ـ په دوعاوو کولو کولو مو وخت تېرېدی. ساړه په ګرمۍ بدل شول. ابا به هر وخت زیارتونو ته تلی؛ خو اخېر هغه ورځ راغله، کومې چې د ابا



خوبونه حرام کړي وو.

***

ناستو ماشومانو په زنګېدو ـ زنګېدو کې خپلې خولې خوځولې، چې کله به حکیم پورتنۍ کوټې ته وکتل، دوی به هم یوه بل ته کتل. شاته پر کټ ناست کنجر څنګ بدل، له چیلم څخه یې لوخړه پورته شوه، وموسېد:

ـ اوهو حکیم صاحب! پام؛ خو ستا هم پورته بند دی؟

حکیم ژر سترګې را ټیټې کړې، کنجر وخندل:

ـ پرېږده نن دا هلکان او راشه دلته کېنه ځئ ـ ځئ؛ نو هلکانو ساتونه موتېر کړئ!

ماشومان په شېبه کې ورک شول، حکیم له ځایه پاڅېد، څپلۍ یې پښو کړې، له مخامخ وره یو ځوان په منډه را ووت. په غاړه کې سور دسمال یې وچر خاوه، پر کټ ناست کنجر نڅا پیل کړه. راغلي ځوان بې له څه ویلو بېرته پورته منډه کړه. کنجر په خندا کې تر حکیم لاسونه لاندې کړل، دوه درې چرخه یې ورکړل:

ـ مبارک دې وي مبارک! ستا قرض ادا شو.

ننوګۍ راغلې ده ننوګۍ. وګوره حکیمه ستا؛ خو په اسمان کې سپوږمۍ په برخه شوه. ګوره ددې نجلۍ مې دوه نیم لکه درکړې وې، د بلې درې نیم او د بلې پوره څلور نیم...

ته همداسې نجونې را زېږوه، زه به همداسې یو ـ یو لک درزیاتوم...

حکیم کښېنته کتل. ده بیا لاسونه ترې چاپېر کړل، څو چرخه یې پر وخوړل:

ـ بس ته هم په همدې پیسو مرسیډز موټرونه اخله...

ښه؛ نو زه به لږ پرده وکړم، بیا دې دننه را غواړم

سرې په خندا کې ننوت. حکيم حيران - حيران کتل. سترګې يې وچې نيولې وې، سلګيو واخيست. پر لرګينه څوکۍ کېناست، سترګې يې پټې کړې. خپلو لاسونو ته يې وکتل، غريو ونيو.

له اوښکو ډکې سترګې يې پاکې کړې، دې لاسونګېدو، چې سور دسمالي هلک په اوږه کېکښېنو. تر بغل يې ور وکتل، د پورته ورتلو اشاره يې وکړه.

د حکيم سترګې ډنډ ولاړې وې.

***

کنجر له ورسره نږدې ناستې ښځې پر اوږه لاس کېښود. د هغې په غېږ کې ورې ماشومې ته يې غاښونه ژېړ کړل.

بيا يې جېب ته لاس کړ، په مبايل کې يې ګوتې ووهلې، پخوانۍ هندي سندره چلانه شوه.

کنجر خپل مبايل د ماشومې غوږ ته نږدې کړ، په کوټه کې ناستو ټولو کسانو اوږې ښوررولې.

مينا پر پالنګ کې غځېدلې وه. کنجر ته يې ږدې نيولې وې سندره کابو يوه دقيقه روانه وه، په دروازه کې د حکيم له سيوري ښکارېدو سره کنجر ژر مبايل بند کړ.

ورو يې ناستو کسانو ته د وتلو اشاره وکړه. ښځې ماشوم کنجر ته ورکړ. هغه وويل:

ـ راځه حکيم صاحب!

دلته د پالنګ پر ژۍ کېنه. بسمليا بسمليا... بسم الله وکړه او دا واخله په غوږ کې يې اذان وکړه.



حکيم پر پالنګ غځېدلې نجلۍ ته وکتل، بيا يې له کنجر څخه ماشومه واخيسته. بنه يې په خير - خير وکتله. سرې ولاړ شو، حکيم شبېه وروسته خپله خوله وخوځوله: الله اکبر، الله اکبر...

کنجر ووت. په سرای کې د وره له څنګ سره پر اېښې چيلم يې خوله کېښوده، لوخړې يې پورته کړې. بيا يې په غاړه کې بند تاويز ښکل کړ، په خندا يې ناره کړه:

بلو زويه! هله دلته راشه

شېبه وروسته يې هماغه د سره دسمال خوان تر مخ ودرېد. هغه خندل؛ خو غږ يې نه اورېدل کېدی. کنجر په ويتو شونډو وويل:

ـ نور ټول کارونه وروسته اول څه او ډاکټر ملک خبر کړه. هله نو زويه په منډه به ځې!

ولاړ خوان پر لويه دروازه ووت. کنجر بېرته په کټ کېناست د چيلم خوړا ختله

***

حکيم پر پالنګ د غځېدلې نجلۍ پښې نيولې وې، په ژړغوني حالت کې يې شونډې وښورېدې:

ـ د خدای په خاطر! ما له داسې امتحان څخه وباسئ. اخېر دا زما وينه ده. تاته دې پر خپلې مرحومې مور قسم وي !!.. دا ماته راکړئ!

ډېره وهلې نجلۍ په کوټه کې پر اېښو ډولونو کې سترګې ګنډلې وې هيڅ يې هم نه ويل، حکيم هماغسې ژړل:

ـ زه به لدې خايه ولاړ شم مينا جانې! يوه لېرې خای ته به ور سره لاړ شم

مينا د هغه رنګ کړې او کونډې ږيرې ته کتل. د سا اخېستل يې اوږده

شول حکیم وویل:

ـ تر هغو چې دې خلکو ته معلومېږي، مونږ دا ښار ببخي پرېږدو.

حکیم لا خپله خبره نه وه پوره کړې، چې مینا سترګې پورته کړې له مخامخ وره یې پر مخ سیوري خور شو. حکیم لا ژړغونی و:

ـ تاته..

کنجر تر څنګ او اوږې لاس ور تاو کړل:

ـ له تا دروغجن حکیم نه؛ خو به زه همدا اوس ښځه جوړه کړم!

دی وچ ولاړ و، کنجر یې خولې پر څمکه وویشتله د ککرۍ وښتان یې ګډ وډ شول

سړي په چیچلې ژبه وویل:

ـ تر تا غوندې سړي؛ خو مونږ کنجران لا ښه یو. کم له کمه د خپلې ژبې؛ خو پاخه یو. پیسې دې هم اخیستې، څنګه د خپل عزت خیال در سره پیدا نشو؟

مینا لا هماغسې غځېدلې وه، سترګې یې ډکې وې؛ خو څه یې نه ویل حکیم په ژړغونې حال کې لاسونه لپه کړل:

ـ تاسې د پیسو په بدل کې زما کور واخلئ!

کنجر د حکیم سر د مینا خواته کوږ کړ، هغې کښته کتل ښی پښه یې ور ټوله کړه، په څان پسې پر نیولي وروکي بالښت یې لاس تېراوه. سړي د چپ لاس ګوته هغې ته ونیوله:

ـ واوره اې... دا وینې!

هغې نهه میاشتې په نس کې ګرځولو باندې تکلیف کښلی، هغه به ستا پلار ور کوي ها؟



مینا حکیم ته وکتل؛ خو څه یې ونه ویل پر لاس یې غبرګې اوښکې توی شوې. کنجر حکیم د وره خواته کش کړ:

ـ وځه.. وځه! چې بیا دې دلته وولا نه ګورم!

حکیم یې په ټېلو - ټېلو تر سرایه بووت. له شاوخوا ټولو دروازو خلک راووتل. دوی حیران - حیران کتل، کنجر لا حکیم تر ګرېوان نیولی وو، غاښونه یې وچیچل:

ـ ستا غوندې دروغجن حکیمان زه په لاره سمولای شم

حکیم یې په سترګو کې سترګې څلور کړې؛ خو حرکت یې نه درلود، سړي پسې زیاته کړه:

ـ واوره اې.. که بیا دې دې خواته کتلي لا هم و؛ نو ستا هغه اووه سره لوراني به دلته راورم او په لس - لس روپۍ به یې وچلوم. وادې ورېدل! ښه یې وخوځاوو. بیا یې تر وره ټېل واهه. د حکیم زګروی خوت، د بازار په ګونه کې روان شو.

***

زینب سره ساه وبسته په څنګ ولاړ پولیس ته یې نیولې وې. بیا یې پسې وغځوله:

ـ درې ورځې وشوې ابا نه څه خوړل او نه یې هم له چا سره خبرې کولې. تر ټولو عجیبه خو لا دا وه، چې له هغه ټول لمونځونه قضا شول

اخېر دا راز تر مونږ هم را ورسېد.

یو ماخوستن مونږ ټولې له مور سره ناستې وو، ابا مو په بله خونه کې قدم واهه، چې دروازه وټکېده. انسا خور مې بام ته وختله کله چې راغله ویل

بې چې کومه ښځه دروازې ته ولاړه ده، چادرې یې هم پر سر ده. مورمې هغه دروازې ته ور ولېږله

***

د وره له خلاصېدو سره په تور حجاب کې ولاړې ښځې وویل:

ـ حکیم صاحب په کور کې دی؟

ـ هو؛ پورته دی. ته. څوک...؟

ـ زما نوم مینا دی.

له دې خبرې سره یې، په غېږ کې نیولی ماشوم ښکل کړ او بیا یې انسا ته ونیو:

ـ دا ماشوم مه حکیم صاحب ته یو سئ.

انسا خبرې ته خوله جوړوله، مینا ژر په ولاړه ریکشه کې سپره شوه.

ـ... واورئ؟ تاسې چېرته ځئ؟

انسا وړې ماشومې ته وکتل، بیا روانه شوه. د پورتنې پوړ د رنګه شیشو دروازې ته ودرېده:

ـ ابا! یو ځل خو دباندې راشه

شېبه ودرېده، ور خلاص نه شو. بېرته مخ پر وړاندې روانه شوه، په عمر پخې ښځې وویل:

ـ دا څه روان دي؟ دا څوک ده؟

انسا ماشوم مه مور ته ورکړه، نورې نجونې پرې راکوړه شوې:

ـ نیو هېږم موري! هغې ښځې راکړه او روانه شوه. ما ورته وویل ودرېږه؛ خو هغې هیڅ وانهورېده.



دوره له شغ سره، د رنګه دروازې پلې خلاصې شوې. حکیم خواره واره وښتان را ووت:

ـ څه شوي، دا شور مو ولې جوړ کړی دی؟

حکیم نجلۍ ته وکتل، تندی یې پراخ شو، انسا وویل:

ـ ابا! یوه ښځه راغلې وه. نوم یې مینا و، دا ماشوم مه یې راکړه.

تولو حکیم ته کتل، ده خپله ګوته مخامخ وره ته ونیوله:

ـ تاسې هغې خونې ته ولاړې شئ او ثریا ته د ننه راشه!

ولاړې څلور واړه نجونې روانې شوې، تولو یوه بل ته کتل پر دوو کتونو کېناستلې، انسا ورو وویل:

ـ خورې ته وا دا به څوک وي؟

زینب په ساړ انداز ور بیا کړه:

ـ نیو هېږم زه هم همدې چورت وړې یمه!!!

***

حکیم په ټیټ غږ ګوته وخندله:

ورو خبرې کوه، نجونې بې واورې!

ښځې په ژړا کې چیغه کړه:

ـ تولې دنیا ته به ووایم تا ماته دا قدر راکړ؟ دومره غټه دوکه؟ مورې دې په دې څلور دېواله کې بندیان کړې او پخپله دې د ملاییتوب په پګړۍ کې کوترې الوزولې؟

کرس شو، ښځې پر مخ لاس ونیو، حکیم ناره وکړه:

ـ بند کړه دا چټیات دي!

په عمر پخې ښځې لا مخ تینګ نیولی و ، ده چیچلې شونډې وخوځولې:

ـ خوله دې مه رابانديږ ماتوه !

ښځې په ژړا کې ګوته شخه کړه:

ـ د خپلې خولې خیال دې وساته، ته به خدای ته په کوم مخ ورځې؟ کومه خوله؟ ها؟

په مخ به دې دروهي ستا هغه لمونځونه

د ښځې چیغې ډېرې شوې حکیم تر ستونی ونیوله، په ګوتو یې زور کړ، بیا یې مخامخ تېله کړه، ښځه ورغبنتله پسې ورغی، د هغې ستمی ډېر شو، د حکیم څخې غورځېدلې، ښځې پر نس دواړه لاسونه کلک نیولی و.

حکیم له څلورمې لغتې سره د هغې سر تر کوڅیو ونیو، د مخامخ وره خواته یې تېله کړه ښځې چغې وهلې، لوڅ سر یې د مخامخ دهلیز پر خوا منډه کړه. حکیم پسې چیغه کړه:

ـ خبردار! که دې نجونو ته څه ویلي و.

وریې پورې کړ، ښځې د وی الله نارې وهلې. په دهلیز کې څلور واړه نجونو تر څنګلو ونیوله او پورته یې وخېژوله، بیا پر کټ کېناستل زینب یې پر مخ لاس را تېر کړ:

ـ څه شوي مورې؟ څه خبره ده؟ ها؟ راته ووایه، هغه ښځه څوک وه؟

په عمر پخې ښځې ژوره ساه واخېسته، په وینه شوې شونډه یې ژبه تېره کړه. ورو یې وویل:

ـ ستا د پلار دویمه ښځه وه. ستاسو... د اتمې خور راورلو ته راغلې وه. د تولو تندی تریو شو، زینب لړزې واخېسته منډه یې کړه. وریې تېل



حکیم په دوه تلې ناست واهه په غاړه کې بند سپین تکری یې پر سر سم کړ، حکیم په دوه تلي ناست و:

ـ هغه ښځه زموږ له خاطره دلې پاتې نه شوه، کنه؟

حکیم په غوسه ورو کتل، دې زیاته کړه:

ـ ته همدا اوس ورشه او هغه دلته راوله ځکه چې موږ تول... سبا سهار له دې کوره ځو !

حکیم نور هم سور واوښت، په غلي غږ یې ګوته وخندله:

ـ زه به تاسې تول ووژنم، که چا له دې ځایه قدم لا هم اخېستی و.

زینب ژر خبره ور پرې کړه:

ـ قدمونه خو به وزې ابا !

او دا د قتلولو اخطارونه مو نور بند کړئ! بیا داسې نه شي کوم کار، چې باید تاسې کړی وای، هغه له موږ څخه کومه یوه وکړي

له نورو خو نه یم خبره؛ خو په خدای قسم پلاره، چې ما شل - شل وارې دا چورت وهلی، چې له تولو خویندو سره په یوه کوټه کې ځان بند کړم او اور وراچوم یا تا ووژنم !

په دې وخت کې انسا هم راغله حکیم ولاړ شو، زینب ته مخامخ ودرېد، په تېټ غږ یې سترګې رډې کړې:

ـ ښه. نو لاس دې په ما پورته کړه !

چیغه یې کړه:

ـ او مړ مې کړه. هله نو...

زینب هماغسې ولاړه وه، په ورو؛ خو ژړغونې غږ یې وویل:

ـ زه رېښتیا وایمه ابا. که دې لدې وروسته هڅه وکړه، چې موږ بندیانې

کړې؛ نو په رښتیا به زه تا مړ کړم!

حکیم تر ستوني لاس ور تاو کړ، مخامخ یې ټېله کړه، انسا ورباندې پرېوتله په لوړ غږ یې وویل:

-زه به د هغې نجلۍ پر ځای، تا په هغه بازار کې پرېږدم وادې ورېدل!

دواړې په چیغو له خونې ووتې. انسا زینب پر کټ کېنوله، په عمر پخه ښځه را کېنسته، انسا وبونګېده:

-ابا، زینب هم ووهله

زینب په ژړغوني غږ ور بیا کړه:

-خیر دی، کومه خبره نه ده. په دې دوزخ کې مو نن وروستۍ شپه ده. سهار وختي به موږ ټول له دې ځایه ولاړ شو!

کابوه دوه ساعته وخت ووت. یواځې د خر- خر و غږ خاموشي ماتوله ټول د بام پر سر په اېښو کټونو پراته ول؛ خو خوب یې تښتېدلی و. دوی ټولو په سپوږمۍ کې ستر ګې خښې کړې وې. څو دقیقې وروسته حکیم هم راغی، وړه ماشومه یې په غېږ کې را اخېستې وه، پر کټ خورې مچردانۍ کې وغځېده.

لږ وخت نور هم تېر شو. د موټر د بریک له شغ سره حکیم په ځای کې نېغ کېناست. تت غږ راغی:

-اوو حکیم شفاعت الله تا ته وایم اوو شفاعت الله.. دروازه خلاصه کړه!

حکیم له مچردانۍ را ووت، ټول په کټونو کې جګ کېناستل. حکیم پر تندې لاس تېر کړ، بیا یې د بام زینې ته ور منډه کړه. له سپینې کرولا سره پنځه تنه ولاړ ول. چاغ سړي د څنګ کس ته وویل:



-دروازه خلاصه کړه!

حکیم بېرته ګوښی ګوښی راغی، غږ یې په زحمت اورېدل کېدی:

-کنجر او کسان یې د نجلۍ وړلو ته راغلي.

لاسونه یې ومروړل، بیا یې څو قدمه واخېستل. د دروازې د ځنځیر ماتولو غږ په لوړه اورېدل کېده، ټولو یو بل ته کتل پر کټ پرتې ماشومې چیغې پیل کړې.

ځنځیر ماتونکي، بل کس ته له موټر څخه د پانې را وړلو وویل. حکیم ماشومې ته وکتل، د هغې تر څنګ په اېښې بالښت یې غوټه کړه، د ماشومې غږ ورک شو. ټولو چیغه کړه:

-اې.. مه کوه. پرېږده... !!!

زینب حکیم ټېل واهه، ده په غوسه وویل:

-دورې شئ.

ترس شو، زینب بغلته ولوېده، بېرته یې بالښت د ماشومې پر مخ کېښود، ټولو زوروونه پسې وهل. د ځنځیر لا ټکا ختله، چیغې نورې هم ډېرې شوې زینب تر کټ لاندې لاس وواهه، د کالو ټکولو لرګی په لاس ورغی، ژر ور جګه شوه. ټولو د حکیم متې نیولې وې؛ خو هغه زوروونه وهل، زینب پرې چیغه کړه:

-پلاره هغه پرېږده. ابا... د ورستي وار لپاره در ته وایم، هغه پرېږده!!!

خرس شو...، د حکیم خوله وازه پاتې شوه، بالښت یې له لاسه ولوېد. د زینب په لاس کې د لرګي یوه خوا تکه سره وه، ټولو ږد - ږد کتل. حکیم پر کټ ور ولوېد، د زینب په لاس کې لرګی یې لږ- لږ سهي کړ او سترګې یې پټې شوې. ماشومې لا ژړل، دوی ټول پر کټ را څرخېدلي وې.

په زېنو کې درېې شو، زينب په ژړغوني غږ وويل:

ـ سلما... هله نجلۍ د عايشې کره يو سه.. هله ځه منډه کړه!

سلما او بلې خور يې منډه کړه. لومړی سلما تر تيټ دېوال واوښته. دوهې ماشومه ورکړه. کنجر له دوو کسانو سره په دوکان کې ودرېد. دوه کسه يې هلته پرېښودل او له درېيو نورو سره دوهم پوړ ته وخوت.

کنجر د حکيم په ليدو پښه نيولی شو. په عمر پخه ښځه ژړولاړه شوه، پر بل کټ پروت ټکری يې زينب ته ور واچاوه، دې د کټ څادر پر سر کړ.

کنجر له ملګرو سره د کټ خوا ته نږدې شو، په ځير يې حکيم وکوت.

ـ په حکيم څه شوي؟

زينب ستر ګې را پورته کړې:

ـ هغه ما وواژه!

کنجر په حيرانۍ ورو کتل. بيا يې ټول تر نظر تېر کړل، وېرېدلي ښکارېدل. حکيم غځېدلی و، کنجر پسې زياته کړه:

ـ زموږ ماشومه چېرې ده؟

کوم ځواب يې وانه ورېد.

ـ بچونې مې چېرې ده؟

زينب ورو وويل:

ـ هغه ابا مړه کړې، بيا يې خدای(ج) خبر چېرې خښه کړې وه.

کنجر شونډې وچيچلې. شاته يې مخ را واړو، له لاندې منزله دوه کسه را پورته شول، سر يې وښوراوه. کنجز وويل:

ـ کوم ځای؛ خو به درنه پاتې شوی نه وي؟

ـ خو په ټول کور کې، دوې خونې دي



کنجر بيا ټولې تر نظر تېرې کړې، څرېدلی سر له خپلو کسانو سره ووت.

زينب پلار ته وکتل، تر ستر ګو يې اوښکې راغلې، د مور پر زنګون يې سر کېښود.

حکيم خلاصې ستر ګې پروت و.

***

له همدې سره پر تخته ولاړې زينب ښه وژړل. د زندان مشر ساعت ته وکتل، له شونډو سره يې ډنډه يو ځای وخوځوله:

ـ بس بس! نور نو وخت ختم شو. ټولې کړئ کمرې - ممرې مو. د لمر تر ختو بايد ووځئ، کنه بيا به مسئوليت ستاسي وي. هلئ بندې کړئ دا بلاوې مو...

زينب ژر ستر ګې را لوڅې کړې، شاوخوا يې وکتل، ولاړو ژورنالېستانو لا نيغ-نيغ کتل. ډو ګر بيا غږ کړ:

ـ تښتئ؛ نو نور... هله اې تاته وايم، کاره دا مايک مايک دي هله هله..

شور شو. ټولو د خپلو مايکونو را اخېستو لپاره منډې کړې، هر يوه زينب ته له اېښو مايکو يو ور اخېست. دوه پوليسانو نجلۍ کلا بنده کړه.

هغې چيغې کړې:

ـ ودرېږئ ما ويلو ته پرېږدئ!!!

خو د زندان مشر ژر - ژر د مايکونو او وتلو نارې وهلې. لاندې ولاړې يوې نجلۍ لا هماغسې ور کتل. زينب چيغه کړه:

ـ زما ټول ويل به هسې چټې ولاړ شي، د خدای لپاره ودرېږئ... !!!

د لاندې کسانو لا ټپل ماټپل و. دې په ژړا کې ورته کره:

ـ ما مې له خپل پلار څخه د پیدا کېدو بدله واخېسته

زما پلار ته اولاده نه و پیدا کړي؛ بلکې مړه کړي یې وو. زه غواړم له شا مې یو سوال پرېږدم او زه غواړم، چې تاسې ټول د دې پوښتنې ځواب له دې ټولنې وغواړئ:

پولیسو په زور ژورنالېستان تر وره ایستل، په دوی کې څنګ ته ولاړې نجلۍ لا دې ته وچې نیولې وې زینب زورونه وهل، بیا یې وویل:

ـ پوښتنه داده، چې "یواځې مړ کول ولې جرم دي، پیدا کول ولې نه دې جرم؟!"

فکر وکړئ، پیدا کول ولې ندې جرم؟! پوښتنه وکړئ؟

په حرامو اولاد پیدا کول جرم دی؛ خو د حلال اولاد راوړل او ژوند یې بربادول ولې ندې جرم؟!

خلکو ته وواياست، چې نور خیرات خواره مه پیدا کوئ بې کالو زندګۍ او له ژړا ډکې کوڅې له پخوا لا ډېرې دي...

چې مړولای یې نشئ؛ نو ولې یې پیدا کوئ اه ا ااا اه اه اا.

زینب بنه وژړل اوس؛ نو ټول ژورنالېستان وتلي و. وروسته یوې ښځې زینب ته تر شا لاسونه وروتړل

دې را ځوړندې زندۍ ته کتل، د زندان مشر ساعت ته وکوت. بلې ښځې یې پر سر تور کڅوړه ورواغوستله. بیا یې زندۍ یې ور په غاړه کړه. د زینب ساه اخستل اورېده شول خلته له هوا ډکېده او بیا خالي کېده، ښځې زندۍ تر ستونې وروستله د زندان مشر شاته وکتل، یوه سر خریلي سړي ته یې اشاره وکړه.

کرسس شو، د زینب تر پښو لاندې ځای ولوېد.



***

د تبخي لرونکي موټر څنګ ته ولاړ سړي کمره سمه کړه، مخامخ ولاړې نجلۍ مایک خولې ته ونیو:

ـ زینب... یوه شېبه، کټ کټه...

سترګې یې وموښلې، خولې ته یې لاس ونیو. څو ځله یې پوزه کش کړه، بیا یې وویل:

ـ سمه ده.

((زینب مونږ پرېښودو او ولاړه.

ګناهګار څوک دی؟

هغه پلار، چې پیدا خو یې کړه؛ لیکین ژوند یې ترې واخېست؟

یا د بیوکراسۍ هغه مشر، چې له خوبه یې د ولسمشر پاڅولو همت نه درلود؟

یا پړه پخپله د ولسمشر پر غاړه ده، چې خپل ستاف ته یې دا وېره ور اچولې، چې د هغه خوب له کومې زینبې څخه هم ډېر مهم دی؟

دا ټولې پوښتنې پخپل ځای باندې اړینې دي؛ خو تر ټولو مهم سوال دادی، چې زینب مونږ ته پرې ایښې دی.))

فرشته ګیلاني

مرکزي زندان

***

له خبرو وروسته د ټلوېزون پرده سپینه شوه. پر کوچ ناستې مېرمنې په څنګ ناست کس ته وکتل. هغه پر څنګ کې د ایښې ټلېفون لو مړی بټنه

کېکاږله، په نرمه لهجه یې وویل:

ـ یوه غونډه را وبوله د هېواد ټول وتلي علما، سیاستوال او مخکښ کسان پکې را وغواړه.

مقابل لوري په ورو وربیا کړه:

ـ سمه ده ښاغلی ولسمشر صاحب! خو اجنډا به څه وي؟

ـ لږ اوږده ده، ولیکه:

((که د اولاد قتلول جرم دی، پیدا کول یې ولې نه دي جرم؟!))

پای

۲۰۱۴ کابل

د وزیر اکبرخان/دارالمان سړک

دفتري موټر